# د تـــاتـــوبـــي

# تڼکتکور او پپیلي

د څیړنې چوپړي ( د ریسرچ پاڼې)



[illegible]

Ketabton.com

د مرغومي ۱۱، ۱۴۰۱ لیږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

**د الله په نوم پيل کوم چې پوره رحم کوونکی او پوره رحم لروونکی دی او مهرباني د هغه له ذاته سره ملګرې ده.**

**ليکي پوهه:**

| | |
|---|---|
| سرليک: | د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلې |
| ليکوال: | ماستر اينجينير صفی الله فردوس |
| خپرندوی: | مومند خپرندويه ټولنه |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| ايډيټور: | ماستر انجينر صفی الله فردوس |
| طراح او ډيزان: | ماستر انجينر صفی الله فردوس |
| خپرېدو نېټه : | مرغومي ۱۱، ۱۴۰۱ لېږدی |
| چاپ نېټه : | مرغومي ۱۱، ۱۴۰۱ لېږدی |

( له چاپ روغ تېر شوی نه دی.)

د چاپ رښت له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښووني ترې د ګټې اخيستنې اجازه نشته !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلۍ
# د څېړنې چوپړي( د ريسرچ پاڼې)

## تيسس ځرګندونه

د ټاټوبي پالنې لوړ حس، ودنې، هوساينې، خوښونې، خوشحالونکي شيبو جوړونکي وګړي او وګړې چې پښتون پښت ته همدا ستاين په غوره اند، واند او پند چمتو کوي، سر دردی، غم او رنځ ترې په ودنې اړوي.

په واده، کوژدې، دسمال، سونتی، ښادی، مېلمستيا، مېلې، زوکړو ورځو کې هر مسلمان نر او ښځې د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلۍ اورې، وايې او ترې ګټنې اخلې. پښتو ژبې د هنر لېوالتيا په دې کښلې کې په دومره مېچه شتون لري، چې يوه غوره مسلمان په دې پوهه وي چې د غم او خوښۍ شېبو ترمنځ بېلوالی کوي، غوره سلوکو، ټنګټکور او پېيلو سره پېژند رغوي، خپلې ژبې او مېنې سره ګڼلي پښتونولي چوپړ چمتو کوي.

## غټ ټکي:

1 د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلۍ ,, د هېواد ساز، موسيقي، غږ، اواز او شعرونه،، ( Country Music, Musical Sounds and Poems ) ..8

1.1 د افغانستان ټول سازونه تر ډېره اټکله د لنډۍ ، ټپې، ټېکی، مصری په ښه ويل کيږي. ........................................................................8

1.2 ټاټوبي د ټنګټکور ټولی پېيلې د پښتو په لرغوني پېيل مېچه ځپېزه خجېزه ټولواله روغ وي :...........................................................................9

2 د پښتو ژبې ټول ګړنې او ليکني پېلې د سکالو له مخې په ۲۶ ډوله دي...........................................................................11

2.1 ديني پېيلی (Religion Poem): ........................................... 11

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. 2 حماسي يا رزمي پېيلې (Epic Poem):................................ 11

2. 3 بډاينې، غنايي يا بزمي پېيلې ( Great, Important, Dignified, Supreme, Erotic, Stimulating Poem): ............................ 12

2. 4 ښوونېز يا تعليمي پېيلې (Academic, Educational Poem): . 12

2. 5 مدحي يا ستاين پېيلې ( Praise Poem):.............................. 13

2. 6 انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي يا ټوکيزې پېيلې ( Critical, Satirizing or Dispraising, Irony, Slip, Trip or Slipping, Limerick Poem): ........................................................... 13

2. 7 ويرنه يا مرثيه، ساندې پېيلې ( Elegy Poem or Wailings Poem ):.......................................................................... 13

2. 8 مبارکۍ، هر کلي يا د تهنيت پېيلې ( Congratulation Poem or Blessed, Happiness, Fortunate, August, Auspicious, Holy Poem): ...................................................................... 14

2. 9 د ګيلو، ګيله منې او شکايتونو پېيلې ( Complainant, Complaining Poem or Complaint, Grievance Poem):...... 14

2. 10 وړتوب، وصفي پېيلې ( Attributive, Qualificative, Adjectival Poem ):..................................................... 15

2. 11 هېوادپالنې پېيلې ( Country Raising Poem ):................... 15

2. 12 دوستي باور کولو پېيلې ( Trust Friendship Poem):......... 15

2. 13 ځيرکې پېيلې (Intelligence Poem): .............................. 16

2. 14 پوهګړي پېيلې (Intellectual Poem):............................. 16

2. 15 کورنۍ ته د غاړې ايښودنې پېيلې (Submission Family Poem): ............................................................................ 17

2. 16 ورکړ د ډالۍ ورکولو پېيلې (Generosity Gift-Giving Poem): ........................................................................................ 17

2. 17 دندې کې د ټېټوالي پېيلې (Humility Service Poem): .......... 18

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. 18 ټکرکولو مېړانې پېيلې (Courage Conflict Poem): ...........18

2. 19 د ژوند لارې لوړې ارزو پېيلې (Ambition Career Poem): ..19

2. 20 زړه سوی او رښتې ټولوالې پېيلې (Mercy Legal System Poem): ....................................................................20

2. 21 ګور ( لید) او رهبری پېيلې (Vision Leadership Poem):.....21

2. 22 مېلمه پالنې پېيلې (Hospitality Poem): ............................21

2. 23 ژبی نښتېځونکي پېيلې (Tongue Twisters Poem):............22

2. 24 متل پېيلې ( Saying, Simile, Parable, Example, Model or Idiom Poem ): ...............................................................22

2. 25 ورمي پېيلې (Admonition Poem):.................................23

2. 26 لوڅې پېيلې (Nude, Naked, Bare or Sexy Poem): .........23

3. ټاټوبي د ساز لوی ربنت..............................................24

4. ټاټوبي د ساز کوشنی بېخلیک.....................................24

5. په ټاټوبي کې د تنګتکور (ساز او اواز، میوزیک) سبکونه.....27

5. 1 وګړني تنګتکور ( ګړنی ساز او اوز، ولسي تنګتکور، محلي موسيقي، سنتي موسيقي، فلکولوریکه موسيقي، شفاهي موسيقي).......................27

5. 2 سبک Style, Method ,, ډول، سبك، طرز، نومل، بلل، لقب ورکول. قاعده، نظم، ترتیب لار یا طریقه ،، ..................................................29

5. 3 مذهبي ساز او اوز ( مذهبي تنګتکور یا مذهبي موسيقي) .............30

5. 4 لوديځ تنګتکور (غربي ساز او اواز یا پاپ موسيقي)....................30

5. 5 ختېځه تنګتکور (زوړ تنګتکور، کلاسیک ساز او اواز یا کلاسيکه موسيقي)...............................................................................31

5. 5. 1 ځای:.........................................................................32

5. 5. 2 لغمانی راګ:..............................................................32

5. 5. 3 د بېلګې په بڼه د پاري ځای ( پاري مقام ): ........................33

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. 5. 4 سبټاک ( Saptak ): .......................................... 33
5. 5. 5 ,, جيجيونتي: .......................................... 33
5. 5. 6 ارو: .......................................... 33
5. 5. 7 امرو: .......................................... 33
5. 5. 8 راګ يا رګ (Raga): .......................................... 33
5. 5. 9 پرزه: .......................................... 34
5. 5. 10 تال ( Tala): .......................................... 34
5. 5. 11 ماتره ( Metre ): .......................................... 35
5. 5. 12 تيور يا تيورا (Tivra ): .......................................... 35
5. 5. 13 سور يا سوارا (Swara): .......................................... 35
5. 5. 14 لی يا لهی: .......................................... 35

6. ټاټوبي د ټنګټکور الې ( وسايل، اسباب ).......................... 36

6. 1 تاري (نبغ له لومې او تاره راوتلی غږ اوباسې، زهې، ارشه يې) سازونه: .......................................... 37

6. 1. 1 رباب : .......................................... 37
6. 1. 2 تنبور: .......................................... 40
6. 1. 3 چنګ: .......................................... 42
6. 1. 4 څلور تاره: .......................................... 43
6. 1. 5 دمبوره: .......................................... 44
6. 1. 6 دوې تاره: .......................................... 45
6. 1. 7 غجکه، چېغکه يا رېچکه: .......................................... 46
6. 1. 8 سرېنده: .......................................... 48
6. 1. 9 سرنی: .......................................... 50
6. 1. 10 شپږتاره: .......................................... 51
6. 1. 11 بينجو: .......................................... 52
6. 1. 12 واج ( وونز): .......................................... 54

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. 2 د پوکي سازونه ( بادي سازونه) ........................................ 56

6. 2. 1 سورني ( سورنا، سورناى ): ........................................ 56

6. 2. 2 تولی (رنګړی، توله، غوړګه، نی یا کړکی) ........................... 58

6. 2. 3 ارمونيه، هارمونيه يا باجه: ........................................ 60

6. 3 د وهلو ساز، ضربه يي ساز ( چې اله په لاس يا ضربه وهې خپل غږ اوباسي) ........................................ 62

6. 3. 1 دايره (ديرا): ........................................ 62

6. 3. 2 ډول: ........................................ 63

6. 3. 3 ډولک: ........................................ 66

6. 3. 4 زنګ ( تال): ........................................ 67

6. 3. 5 اړخبغلی، يوه سره ( زېر بغلي): ........................................ 68

6. 3. 6 تبله ( طبله، دوې ګړيه، دوګړې): ........................................ 69

6. 3. 7 منګی ( ګړی): ........................................ 70

7. يادونه: ........................................ 71

8. د انځورونو معلومات ........................................ 72

9. Bibliography بيبلو ګرافي ........................................ 75

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 1. د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلې ،، د هېواد ساز، موسيقي، غږ، اواز او شعرونه،، Abode Music and Poems or Country ) ( Musical Sounds &Poems

د افغانستان ساز يوه ګډ ټکی د لورويني او غوره اړېکې د تربګنو، ټبرونو او ژبو سره لري، پښتو، دري، ازبيکي، پشه يي، نورستاني، ګوجري، بلوچي او ۲۴ نورې ژبې د ټاټوبي د ساز کښلې بڼه د ژبو لري او د ساز کښلې بڼه ( ليکل شوي، متن Text متن: سوره: موضوع، مضمون او درسي کتاب. ) اساسي ستېه رغوي.

زموږ ټاټوبی د ساز بېلا بېل سبکونه او لهجې لري، له لرغونو پښتني وګړني پېيلو نېولې لکه : لنډۍ ، ټپې، ټېکی، مصری، نيمکی لنډۍ، نيمکی ټپه، نيمکی ټېکۍ، نيمکی مصرۍ، لنډۍ اېزه، ټپه اېزه، ټېکی اېزه، مصری اېزه، انګۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربيتۍ، سپينۍ (ازادې پېيلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پينځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هايکويۍ، پټۍ ( تي خورو اړوندې پېيلې)، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کښتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښپليزۍ، ناپېيلۍ او سلسلۍ. د پښتو تول ګړني او ليکني پېيلو ۲۰۰ بېلابېلو کلبونو، له دري غزل او عربي غزل نېولې تر هندي راګونو پورې دود لري.

د ساز ګامونه ( موسيقي قدمونه ) په لويه کې ډياټونيک ( پرته له ميکروټون ) څخه دي او تر دې نږدې پېر پورې څو غږګېزه او هارموني لوېدېځه بڼه د افغانستان په موسيقي باندې ډېر تاثير نه دی اچولی.

## 1. 1 د افغانستان ټول سازونه تر ډېره اټکله د لنډۍ ، ټپې، ټېکۍ، مصرۍ په بڼه ويل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالبانو ترانه (چې تړاک، جګړې، بلواګرئ، سرخندني او ربړوني ته د هڅوني په پار ويل کېږي، پرته له سندرې، پرته له سازه، پرته له ميوزيکه، سويي ټنګټکوره، ترنم او ترانې په بڼه په سټوډيو ګانو کې وايي چې ډېرى يې د ټاټوبي دودونو، کلتور او له ټولو اسلامي هېوادونو بېل بېلوالى لري؛ بل لورې ته دا هغه پېيلې نه دي چې ملايانو، مولويانو، خطيبانو، مفتيانو او شيخانو به د ادېنې او اخترونو په خطبه کې په دربځ باندې وايي، يا پر قبر، پر سترو ناستو کې ويلې) او د دري او فارسي ترانه چې ورته ( Melody, Song, Chorus ) په اينګلېسي کې واي ( ,, Melody: خوږه نغمه، غاړه لکه لغمانى، اهنګ، د اوازتيټوالى او لوړوالى.،، ، سندره Song, Carol : د خوشالۍ بدله: تعريف کول: فدا کاري کول: ځاربدل ،، او ,, Chorus: کورس ډله: په ننداره کې هغه ډله چه د نڅا او سندرو له پاره روزل شوې وي، په ګډه سندرې: د سندرې يوه برخه چې په ټاکلې دمه کې ويل کېږي.،،) دومره خوږوالى نه لري.

فاروق افندي د افغانستان ترک اصله موسيقي پيژندونکى په دې باور درلود چې زموږ د سيمې په جغرافيوي پولو کې هېڅ وګړني پېيله (فلکلوريک شعر) او ترانه د لنډيو غوندې د غاړو د پاللو تغزلي غنا او د خپلې د رښتينديه او هيجان هستونکي ژبې له پلوه دومره اوچت اولوت ځاى نه لري.

## 2. 1 ټاټوبي د ټنګټکور ټولې پېيلې د پښتو په لرغوني پېيل مېچه ځپېزه خجېزه ټولواله روغ وي:

( چې له ځلورګونو ځپو ځخه به يې يا په هر ځلور ځپېز کې اوله ځپه باندې زورنه وي، يا په هر ځلور ځپېز کې دوېيمې ځپه باندې زورنه وي، يا په هر ځلور ځپېز کې دريېمې ځپه باندې زورنه وي، يا په هر ځلور ځپېز کې ځلورمې ځپه باندې زورنه وي) په سټه روغې دي.

(Tone, Intonation) په هر ډول، غونډله ييز اهنګ چې کښته پورته او يا هوار يون او خوځون وومومي او خبرې او نا خبرې (انشائيه) يا امري غونډلې سره توپير وي، هممهال شعري اهنګ هم دى. ځکه پېيله (شېر، شعر يا اشلوک) هم له غونډلو او له اړوند سره توپير وي، هممهال شعري اهنګ هم دى. ځکه پېيله (شېر، شعر يا اشلوک) هم له غونډلو او له اړوند زورونو او اهنګونو سره تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ټنګټکور او پښپلې ■■ 10 چوپړی

خو کله چې پښپله (شپږ، شعر يا اشلوک) د موسيقۍ ډګر ته ور ګډېږي، نو بيا يې هغه زورنې ( خجونه) او اهنګونه نور له ژبني او پښپله يي (شعري) چار پېريال را وځي او ,, موزيکل،، کېږي. په دې ترڅ کې د دغه دواړو توکو نه اهنګونه بلل کېږي: کمزورې زورني ته يې ټيټ اهنګونه وايي او اهنګونو ته يې لوړ اهنګونه او هغه بيا ,, زېر او بمي: Pitch له پر له پسيوالي، ډېر پېښنی او د رپړدا له پلوه له پراخوالي څخه منځ ته راځي، هر څومره چې پېښنی يا تواتر شمېر زيات وي، غږ همغومره زير او هر څومره چې لږ وي، غږ همغومره بم اوريدل کېږي.

له بل پلوه که د رپړدا لمن هر څومره پراخه شي، غږ هغومره رسا او هر څومره چې لنډ تنګه شي، غږ هغومره نا رسا اوريدل کېږي.

په دې توګه غږ يا زېر وي يا بم که منځني، ولېډونکی يا جګېډونکی او داسې نور دي، اهنګ يا Intonation د زېر او بم يو ډول دی، دا مانا کله چې د ګړهار په بهېر يا اوږدوکي د زېر او بمي پراختيا لمن د غونډلې په کچه وي هغه زير او بمي اهنګ بلل کېږي، اهنګ په پښتو کې ژبني ارزښت لري، د سارې په توګه خبري او ناخبري غونډلې سره توپير وي، د خبري هغې اهنګ ولېډونکی او د پوښتني هغې جګېډونکی ... . دی،،. غاړې ,, لحنونه،،.

,, غږېز تارونه: د سا (وچې) مرۍ په لوړه برخه کې حنجرې ( چنغړک) دواړه دننه دېوالونو ته څلورو يا دوو جوړو مرغېړيو ( عضلاتو) ځای نيولی دی چې له ډېرو ارتجاعي او نريو تارو څخه جوړ شوي دي. دغو تارو ته غږېز تارونه وايي، د غږونو د جوړيدو پر وخت سا هوا د حنجرې له تشې نه د غږېزو تارونو له منځه تېرېږي. که د سا هوا د تېرېدو پر وخت چې د غږ زېږ له پاره پر کار ولېږي، غږېز تارونه په عادي بڼه وي، په بله وينا يوه له بله سره لرې وي، هوا له تارونو سره بې که کوم ټکره تېرېږي او تارونه نه رپږدي. نو داسې غږونه منځته راځي چې هېڅ راز بنګهار او موسقيت نه لري، دا راز اوازونو ته ,, ناغږن اوازونه،، وايي. که د غږ د زېږ پر وخت غږېز تارونه سره نږدې راوړل شي، په بله وينا، د حنجرې تشه سره ورشي او د هغو مرغېړي سره راکېښکل شي، په دې توګه سا هوا تارونه پر رپږدا راوړي او داسې غږونه رامنځته کېږي چې بنګهار او موسقيت لري، دا راز اوازونو ته ,, غږن اوزونه ،، وايي. دا چې ټول پښتو خپلواک اوازونه د پيدايښت پر وخت غږېز تارونه رپږدوي، نو له دې کبله ټول غږن او خواږه دي،، ( محمد رحيم، ۱۳۴۹ ل، ۵۲ چوپړی)

له دې سره، سره پرته له خبرو او پښپلو يا يوازې د تش ساز په بڼه هم شتون لري لکه (رپېراتور).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېبله ( شېر یا شعر، اشلوک) یوه ځانګړی ځای زموږ د ټاټوبي د ساز په دود کې لري.

## 2. د پښتو ژبې ټول ګړني او لیکني پېبلې د سکالو له مخې په ۲۶ ډوله دي.

د پښتو ټول ګړني او لیکني پېبلو ۲۰۰ بېلابېلو کلبونو زما په نظریې؛ پېبلې , اشلوک، شېر یا شعر ، د منځپانګې , سکالو، محتوا او موضوع، له مخې شېږ وېشت ۲۶ ډوله دي. لکه:

### 2. 1 دیني پېبلې (Religion Poem):

په دې ډول پېبلو کې دیني موضوعات، لکه: د الله ,ج، توحید ( له شرک او کفر څخه ځان ساتل تر قیامته پورې)، د پیلني سړي ( اول سړي، لومړي سړي، ابوالبشر یا حضرت ادم صفی الله ) خبرې، پېبلې، کړه وړه، پښتو ژبه یې چې هغه پرې پوهېده، له الله ج څخه یې غوښتني او په اسلامي نېغه لاره تر پاینۍ سلګۍ پورې ودرېدل، له ۲۲ لویو ګناهونو یا حرامو کارونو نه کول او حلال یا روا کارونو کول، د دین د بزرګانو اقوال او لارښوونې، ژوند پیښې، عبرتناکې کیسې او په دین او مذهب پورې نور اړوند مسایل شامل دي.

### 2. 2 حماسي یا رزمي پېبلې (Epic Poem):

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د جنګونو، اتلوليو او ملي تاريخي وياړنو بيان په کې راغلی وي، سکالو يې پر رزم يا د يادويګا (۲۳٤مخ) په خبره پر جنګ جګړې راڅرخي.

## 2. 3 بډاينې، غنايي يا بزمي پېيلې Great, Important, Dignified, ) Supreme, Erotic, Stimulating :(Poem

غنا په لغت کې سرود، نغمې او ښکلي آواز ته وايي او په ادبي اصطلاح هغه پېيلې دي چې د پېيلن او پېيلنې (شاعر او شاعرې) د احساساتو او عواطفو بيانونکي او څرګندوی وي.
دغه احساسات خامخا د انساني مينې (محبت)، مينه ناك، له مينې ډك، لېوالتيايي (عشقي)، پارونې، رنځونو او کړاوونو څخه متأثر يا اغيزمن شوي وي، د لېوالتيا سندرې دي چې له نيمګړي مينې او وار وار د ليلا او مجلون (ليلی او مجنون)، فرهاد او شيرينۍ سکالو را نغاړي په روان پير او په ځاني تجربه لړ پام ساتي، سکالو يې پر بزم او يا د يادويګا (۲۳٤مخ) په خبره پر مينه يا لېوالتيا راڅرخي.

## 2. 4 ښوونېز يا تعليمي پېيلې ( Academic, :(Educational Poem

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کې هغه پیېلې شامل دي چې د شاعر هدف په کې نوروته د ښوونې، زده کړې، نورو علومو او فنونو ور زده کول وي.

## 2. 5 مدحي یا ستاین پیېلې ( Praise Poem):

په دې ډول پیېلو کې شاعر د خپل ممدوح ستاینه کوي، د هغه اخلاقي ښیګڼې بیانوې او د دنیایي ژوند برپاوې او ښکلاوې یې ستایي.

## 2. 6 انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي یا ټوکیزې پیېلې ( Critical, Satirizing or Dispraising, Irony, Slip, Trip or Slipping, Limerick Poem):

په دې ډول پیېلو کې د تن (فرد) یا ټولنې اخلاقي نیمګړتیاوې، ناوړه اعمالو ته د انتقاد ګوته نیول کیږي، مسایل د هجو او یا طنز په ژبه بیانیږي، یوه ډول ټوکیزې پیېلې دي.

## 2. 7 ویرنه یا مرثیه، ساندې پیېلې ( Elegy Poem or Wailings Poem ):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لغوي معنا يې پر مړې ستاينې او ژړيدنې دې او په ادبي اصطلاح هغه پيبلې دي چې پيبلنو (شاعرانو) په کې د مړي د نيکيو او ښيګڼو ستاينې کړې وي او هغه پر مړينه يې د خواشينۍ او خفګان څرګندونه کړې وي.**

## 2. 8 مبارکۍ، هر کلي يا د تهنيت پيبلې (Congratulation Poem or Blessed, Happiness, Fortunate, August, Auspicious, Holy Poem):

**د تهنيت لغوي مانا مبارکي او ښه راغلاست ويل دي او په ادبي اصطلاح د پيبلو دا ډول د مرثيې خلاف دی.**

**پيبلن او پيبلنه (شاعر او شاعره) په پيبله (شبر، شعر، اشلوک) کې د خوښۍ احساس څرګندوي او نوروته د خوښۍ پيغام رسوي.**

## 2. 9 د ګيلو، ګيله منې او شکايتونو پيبلې (Complainant, Complaining Poem or Complaint, Grievance Poem):

**په دې پيبلو کې د ژوند له ناوړه او غمناک حالت او د ټولنې ظالم حاکم قدرت نه ګيله او شکايت شوی وي، پيبلن او پيبلنه (شاعر او شاعره) د غسې خپل دردونه او اوزونه څرګندوي او نور پرې خبروي چې اصلي هدف يې له خپل حال نه د نورو خبرول دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2. 10 وړتوب، وصفي پېيلې ( Attributive, Qualificative, Adjectival Poem ):

په دغه ډول پېيلو کې پېيلن او پېيلنه د خپلې نېغې ليدنې کتنې يا باوري اوريدنې له مخې د اشخاصو، طبيعي منظرو د کال د فصلونو او نورو شيانو ظاهري صفات شرح کوي او کله، کله بيا د خپل تخيلي ځواک په ملتيا معنوي اوباطني نړۍ ته داخليږي او د افرادو روحي او عاطفي ځانګړني تشريح کوي.

## 2. 11 هېوادپالنې پېيلې ( Country Raising Poem ):

په دغه ډول پېيلو کې د هېواد پالنې، وطن هسکولو او ټاټوبي (پورته کولو، جګول پرمخ بيول، ژوند کول، تيارول، روزل، برابرول، سرشته کول، اېشول، ابادول، جوړول، ودانول، راټولول، مړول، ځرګندول، اعتراف کول، ډېرول، زياتول، پرسيدل، پای ته رسول، سرته رسول، تمامول، بشپړول) په اړه سپړنه شوي وي. پېيلن او پيلنه په پېيله کې د دښن لمسون نه منلو، خپلې خاورې ته د لېوالتيا په لوړ حس کتلو ځانګيرنې سپينې ته راوباسي.

## 2. 12 دوستي باور کولو پېيلې (Trust Friendship Poem ):

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه ډول پېيلو کې د دوستي ( ياري، ملګري او يارنې) باورکولو ( ويساکول، اعتبار کول: اسره کول، هيله کول، تکيه کول، اعتماد کول، توکل کول: عقيده لرل، اميد کول. باور، ويسا: باوري، اعتباري: ذمه وار مقام، مسئول مقام: څوکيدار، څوکۍ والا: امانت، وديعه، سپارنه، امانتي پانګه: د نرخونو د کنټرول موسسې.) په اړه سپړنه شوي وي.
پېيلن او پېلنه په پېيله کې ځان کم راوستو، خبرې منلو(فرمان برداري، حکم منلو)، ملګري ماتولو، بې پامه ( بې پروا، بې لحاظ )، پېښه، په کومه بڼه تاسو باور تعريف کوئ؟، تر ټولو ډېر باوري تن ستاسو په ژوند کې څوک دی؟، په کومه بڼه په چار ده چې دوستي وکوئ؟، تاسو د تل پاتې باور او يارنې له پاره غوره کړنې کوئ؟ ولې او ولې نه؟، تاسو په کومه بڼه اند لرئ چې باوري ملګري مو د وړتياوي کوم پوړونه پوره کړي؟، تاسو په کومه بڼه اند لرئ چې خپله مګري مو ومنئ ؟ ستاسو په ژوند کې کوم تن يا تنه شتون لري چې هره خبره يې ومنئ؟ په ورته بڼه پوښتنېزه غونډلې او د ياراني باور لوړ حس ځانګېرنې سپېنې ته راوباسي.

## 2. 13 ځيرکې پېيلې (Intelligence Poem):

د وی يا ويکيي له پامه د پوهې، خبرتيا، استخباريه، ځانګړيو خدمتونو پېيلو ته وايي. او په اصطلاح کې هغه پېيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونېږي: په کې د دښن شته، د جګړې کړښې شاته د ځواک کچه مندلو، پټې موخې، د غوله ونې شفرونه او سکنالونه، کاړه وګړي او هاميانی، ټاکلی وګړي ربښت، د غلې کړنو ګور ټولوالې کړه وړه بوږېدلي وي.

## 2. 14 پوهګړي پېيلې (Intellectual Poem):

د وی يا ويکيي له پامه هوښياري، عاقلې، روښان فکره پېيلو ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په اصطلاح کې هغه پېيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونيږي: په کې د لوړو لوروينو، غوره پېژند، سويې کمعقلي، سويې جهالت، سويې پوچې عقيدې ( سويې موهوماتو، سويې موهوم پرستي، سويې خرافاتو) او په لوړه علمي ژمنې بوږېدلي وي.

## 2. 15 کورنۍ ته د غاړې اېښودنې پېيلې :(Submission Family Poem)

د وی یا ویکيي له پامه کهول ته د سپارنې ( تسلېمېدنې، اطاعت، وړاندېز) پېيلو ته وايې.
او په اصطلاح کې هغه پېيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونيږي: چې پېيلن یا پېيلنه په پېيله کې پوښتې چې غاړه اېښودنه څه ده؟، يوه بېلګه يې وړاندې کړئ، په کوم پېر کې چې غاړه اېښودنه شتون و نه لري، پايله ( نتيجه، پای، غوره والی او توپېر) يې څه ده؟، په کومه بڼه پام کوئ چې پلار ته اړېينه ده څواب ويونکی د هغه زوزان وي چې سراښتوب ( بخل، حرص) او درناوی نه کوونکی وي؟ او د روزنې غوره کړه وړه وندې کوي.

## 2. 16 ورکړې د ډالۍ ورکولو پېيلې (Generosity :Gift-Giving Poem)

د وی یا ویکيي له پامه په سخاوت ( بې کبري، فراخوالي، فياضي) د ډاليو ورکولو پېيلو ته وايې.
او په اصطلاح کې هغه پېيلو دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونيږي: چې پېيلن یا پېيلنه په پېيله کې پوښتي چې ورکړه څه دی؟، هغه ډالۍ سپېڼې ته را وباسئ چې ترټولو غوره مو په ژوند کې کوم تن ته ورکړې وي، تاسو په کومه بڼه حس کوه په کوم پېر کې مو چې ډالۍ ورکوله؟، تر اوسه مو لېست جوړ کړی چې پلار، مور، ورور او خور ته څه او څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړين دي، دا اړتيا مو ولې غوره کړه، او په څو هاميانيو ورته ډالۍ پېرودئ؟ په سختۍ کې مو چاته ډالۍ ورکړې؟، غوره جوړه د ژوند کومه ډالۍ غوره کوي؟، غوره سخاوت، او د بې کبري غوره کړه وړه وندي کوي.

## 2. 17 دندې کې د ټېټوالي پېبيلې (Humility Service Poem):

د وی يا ويکيي له پامه په خدمت، کار، نوکري، وظيفه، ماموريت، د لښ خدمت کې د ټيټ والي، سپکوالي، تواضع پيبيلو ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه پيبيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونېږي: چې پيبيلن يا پيبيلنه په پيبيله کې د غورې دندې او غوره کړو وړو، ښه سلوکو، بې لوره لوروينو، په اتلولی د دندې سرته رسولو، په سرلوړۍ د ټاټوبي سپارل شوي هره دنده بشپړولو او په ټوله کې د لوی کور په لوی ليد د دندې کړه وړه وندي کوي.

## 2. 18 ټکرکولو مېړانې پيبيلې (Courage Conflict Poem):

د وی يا ويکيي له پامه د ټکر خوړلو همت، مخالفت کولو زړور توب، تصادم کولو همت، په زوره په بل شي سره نښتلو زړور توب، لګېدلو مېړانې، مخالفت همت، اخ او ډب مېړانې، لګېدنې زړور توب او نښتې زړور توب پيبيلو ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه پيبيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونېږي: چې پيبيلن يا پيبيلنه په پيبيله کې پوښتې چې په روان پير کې ستا او د بل تن ترمنځ په زوره په بل شي سره نښتل په څه دي؟، تاسو دغه حالت ته په کومه بڼه ځواب ورکوئ، خپل د لګېدلو باندې چې تاسو ځواب ورکړی دی؛ خوښ يئ پرې او که نه؛ په بېله بڼه غواړئ چې ځواب ورکړئ؟، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل تن له ورته مخالفت سره مخ شي تاسو څه پام کوئ چې د هغوی مخالفت به په کومه ډول وي؟، د همت یا زړورتوب په اړه غوره کړه وړه وندي کوي.

## 2. 19 د ژوند لارې لوړې ارزو پېبيلې (Ambition Career Poem):

د وی یا ویکيي له پامه د مسلك حرص، حرفې جاطلبي، د ژوند لارې لوړې ارزو، پرمختګ (په ژوند کې منډې، کار کې بېړې) داعيې پېبيلو ته وايې.
او په اصطلاح کې هغه پېبيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونبيړي:
چې پېبلن یا پېبيلنه په پېبيله کې پوښتې چې کله تاسو کوشنی وئ، څه شئ تاسو غوښتل چې شئ په راتلونکي پېر کې؟ ولې؟ ورسته مو خپلې غوښتنې څخه وګرځيدئ؟، د لوړې ارزو ګټې په څه کې دي او تاونونه يې څه دي؟، تاسو په روان پېر کې په څه مشغول يئ چې په سمون يې خپلې موخې ترلاسه کوئ؟ تاسو داسې پام کوئ چې ستاسو لوړې ارزو پای ته نه رسيږي؟ ولې؟ او ولې نه؟، تاسو لوړې ارزو لرئ چې د يوه استازي یا فلمي ستوري په شان شتمن تن ووسئ نه لکه يوه انجينېر تن په شان چې هېڅ سرغندوی ( مشهور)، بډايه او سوکاله نه وي خو ټول ژوند يې د نورو وګړو یا د ټولګټې هوساينې، ګټنې او مرستې له پاره په کار کړ کړی وي، تاسو تل څه شئ غواړئ چې ترلاسه يې کړئ؟ تاسو ترسره کړي دي تراوسه؟ تاسو په کومه بڼه د بریالیتوب مېچه کوئ؟، تاسو لوړې ارزولرونکي يئ؟ ستاسو نوموړی حرص د دې سبب شوی دی چې د ژوند غوره برخه مو له پامه لوېدلې وي؟ تاسو څه شی کولی شئ چې ډېر یا لږ لوړ ارزو لرونکی دي وګڼل شئ له خپلو څه رنګوالي څخه؟، د مسلك حرص، حرفې جاطلبي، په ژوند کې منډې او کار کې بېړې داعيې وندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2. 20 زړه سوی او ربښتي تولوالې پېبلې (Mercy :Legal System Poem)

د وئ یا ویکیي له پامه زړه سوی او ربښتي تولوالې (رحم او قانوني سیستم، مهرباني او حقوقی تولوالې، شرعي تولوالې ) پېبلو ته وایې.
او په اصطلاح کې هغه پېبلې دي چې دننه نی سکالو یې داسې رونېږي: چې پېبلن یا پېبلنه په پېبله کې پوښتې چې کله مو داسې کار کړی دی چې اوس پوی شوئ چې داسې کار مې باید نه وی کړی؟، تر اوڅه پورې دې داسې پرېکړې پایله ترلاسه کړي ده چې تورن ګنډل شوی یې او یا کوم تن در ته بخښنه یا زړه سوی دربانډې کړی وي؟، د پرېکړه کوونکي (قاضي) کړه څه ډول وي؟، د پرېکړه کونکي او زړه سوي کوونکي ترمنځ بېل والی څه دی؟، وګړي دي پېرېکړې وکړي او که زړه سوی چې کله کوم تن په لوی تور تورن وي؟، دودېز، ټاټوبي او پېنی وال ربښت لوړ حس د ترې او پرېکړې هر تن ډک وي؟، ستاسو پور په وګړو بانډې د پرېکړې او زړه سوي په ډول چې مالیه نه پرې کوي، وژنې، د تمځي د څراغونو نه درناوی، پر ناموس وار، له هتې د خوړو غلا، د نشه یې توکو پلور تورونو په کومه بڼه کړ کیږئ؟، تاسو تر ډېره پرېکړه کونکی او که رحم کوونکی تن یئ او ولې تاسو پام کوئ چې داسې تن یئ؟، تاسو د خپلو وګړو په منځ کې د پرېکړې او زړه سوي په ډول ترمنځ تله او پرتلنه په څه ډول کوئ؟، د ښه سلوک برابری ( پای ته نږدې: د ځانمنیتوب ښکاروندي ځان پالني؛ پای ته ډیر نږدي: قانوني ښکاروندی؛ پای: مسلکي کړني ښکاروندی؛ له پای وړاندې: ربښتینوالی ښکاروندی) کوي، ځیني شیان کیدی شي چې قانوني وي، خو سوی سم یا ناسم به وي ( ښه سلوکو پوهه)، ځیني شیان کیدی شي چې سم وي ( ښه سلوکو پوهه) خو سوی قانوني یا بي قانونه به) وي او په کې د عفوي، زړه سوي، رحم، مهربانی، قانوني، ربښتي، حقوقي، شرعي تولوالې بوږېدلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2. 21 ګور (ليد) او رهبری پېبيلې (Vision Leadership Poem):

د وی يا ويکيپي له پامه په خيال کې راوستل او مشری، ( ليدل او زعيمي، تصور کول او رهبری، په خيال کې راتلل او لاربښوونکي، خيالي منظره او مشری، خيال او رهبری، بصيرت او رهبری، باصره او زعيمي، منظره او زعيمي، د باصري حس او رهبری) پېبيلو ته وايې.
او په اصطلاح کې هغه پېبيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونيږي: چې پېبلن يا پېبيلنه په پېبيله کې پوښتې چې هغه کوم رهبر دی چې تاسو ورته د مينې او شاباسي په نظر ورته ګورئ؟ ولې دوی ته د مينې او شاباسي په نظر ګورئ؟، کوم څه رنګوالی تاسو په ښه رهبر کې وينئ؟ پرته له مشرئ څخه په ټاټوبي کې ګډوډي، بشپيړه بې نظمي او انارشيزم يا ځانځاني ( بې رښتي، بې حکومتي) ته لاره پرانستل کيږي؟، مشر ( رهبر ) د ليدلو (بصيرت، تصور کول، په خيال کې راتلل)، قضاوت ( نظريه، اټکل، د تشخيص قوه) او د ښې راتلونکې په هېله ( د ښه ژوندانه په هېله) درې غوره ځانګړنې لري؟، رهبري پر دې پوهيږي چې راتلونکی بل کوم کار وکړي؛ پوهيږي چې دا ولې غوره دی او پوهيږي چې په لاس کې لرلو اسانتياوو زيرمو څخه ګټنې راوباسي؟، کومې پرېوتلې ( واقعه، دروغ ) مخې ته دي، دا څلور اړخه لرې لکه څنګه چې دننی اړخ لري؟، په هرو پيچلو خنډونو کې اسانتياوي پلټي، خو په هرو اسنتياوو کې خنډونه نه پلټي!؟، ليکونکی څه شی په ډاګه کوي چې درې غوره ځانګړنې د مشر څه دي؟، د کښونکي کښلې چې وړاندې کوي دا د هر وګړي ليد دی د يوه ښه رهبر له پاره، تاسو ورسره دامنئ او که نه يې منئ، ولې؟ او ولې نه؟، په پېنی واله سېمه کې ګټور مشر په کومه ډول تشريح کوئ؟ او وند د رهبری په کې بوربډلي وي.

## 2. 22 مېلمه پالنې پېبيلې (Hospitality Poem):

د وی يا ويکيپي له پامه مېلمه پالنې او مېلمه پاله پېبيلو ته وايې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په اصطلاح کې هغه پيبلې دي چې دننه نې سکالو يې داسې رونبېږي: چې پيبلن يا پيبلنه په پيبله کې د مېلمنو غوره پالنه، مېلمنو درناوی، د پښتون پښت (نسب) پخت پخلی، لېوالي او لېوال ته د غوره خوړو پخول، پخلنځي کې په زړه پورې خوړو، دمي ځای کې غوښنو او مېلې ځای کې د شپنوسيخان پخول، پټولی ( مېزپوښي، دسترخوان) تيارول، خوړل او څښل وندي کوي.

## 2. 23 ژبې نښتېځونکي پيبلې (Tongue Twisters Poem):

د وی يا ويکيي له پامه ژبه بندېدونکي، وينا بوړبوکي غولی، وينا سبک چورلونکي، ژبې ګډوونکي پيبلو ته وايې.
او په اصطلاح کې هغه پيبلې دي چې دننه نې سکالو يې داسې رونبېږي: چې پيبلن يا پيبلنه په پيبله کې ډېر ژبه څرخوونکي غبرګلړونه، ډېر ژبه تاوونکي غبرګې پښېلې او ژبه نښتېځونکي غونډلې، غونډ او ويکيي وندي کوي.

## 2. 24 متل پيبلې ( Saying, Simile, Parable, Example, Model or Idiom Poem ):

د وی يا ويکيي له متل، مقوله، کره وينا مثال او نمونه يې پيبلو ته وايې.
او په اصطلاح کې هغه پيبلې دي چې دننه نې سکالو يې داسې رونبېږي: چې پيبلن يا پيبلنه په پيبله کې متل، مقوله، کره وينا مثال؛ تشبيه (ورته والی)؛ هغه لنډه کيسه چې د اخلاقو درس ورکوي؛ عبرت؛ نمونه، موډل، کاپي، سر مشق، ورته ( مشابه ) ، جوړښت، رغښت، هغه کره وينا مثال چې پيبلن يا پيبلنه يې له مخې پيبله کاږي، هغه سړی يا ښځه چې انځورګر يې له مخې ځيره کاږي، اصطلاح، لهجه او د افادې خاص ډول وندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2. 25 ورمي پېبيلې (Admonition Poem):

د وی یا ویکیي له پامه نصیحتي، مصلحتي، مشوريي او ورمي پېبيلو ته وايې.
او په اصطلاح کې هغه پېبيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونېږي:
چې پېبيلن يا پېبيلنه په پېبيله کې نصيحت، سلا، مشوره خبرتيا، لارښوونه، د خبرونو راپور ( د جمع په حالت کې ) او ورمونه وندي کوي.

## 2. 26 لوڅې پېبيلې ( Nude, Naked, Bare or Sexy Poem):

د وی یا ویکیي له پامه لوڅې، لغړې، بربنډې، سیکسي، کونی، پوچې او بې ختو پېبيلو ته وايې.
او په اصطلاح کې هغه پېبيلې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونېږي:
چې پېبيلن يا پېبيلنه په پېبيله کې جنسي، نر توب یا ښځتوب شهوت، شهواني غريزه، بې جامو، لوڅې، لغړې، بربنډې، ځرګندې، ايستلې (لکه توره له تيکي ځخه)، تش لاسي (بې وسيلې)، بې زيرمې، شړيدلې (لکه کالې)، خوارې، تشې، بې ډوله، ساده، بربنډول، لغړول او تشول وندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3. ټاټوبي د ساز لوى ربنت

د ټاټوبي ساز په بېلا بېل سبکونه او لهجې کې سندرغاړو (ټنګټکوري، موسيقارو، سازيانو، شاعرانو يا هنرمندانو) ته سرغنويتوب ورکړى دى چې له کرښو او پولو (سرحدونو) څخه ور تېر شوي دي او د وګړو په زړونو کې يې ځاى موندلى دى، له شپېتمه لېږدېزه لسېزه، افغانستان په دننه نې توتريخوالي کې ګېر و، له دې مخې د ټاټوبي بډايه ساز پاتېشونى ( ميراث) چورلک ( شپېلک، سګنال) په نشت شو، و ځپل شو او يوازې د باندنيو ځواکونو له لاسه تپتې کچې ته ورسېده.

پلازمېنه کابل چې د دودونو زړه يا مرکز يا کلتوري او فرهنګي مرکز د افغانستان دى، د ساز ( موسيقي ) له دګره هم، د لغمان ساز يې د زړه برخه، پکتيا ساز يې متې، د بلخ ساز يې زېرمه، د کندهار يې مستي او د هرات ساز يې دوديز ( سنتي ) دى. چې بل لورې ته د ننګرهار ساز يې د هندي ساز پوله، د بلخ ساز يې د روسيې ساز پوله او هرات ساز يې د ايران ساز پوله او ژئ دي او ډېر نږدېوالى سره لري.

## 4. ټاټوبي د ساز کوشنى بېخليک

په ټاټوبي کې د ساز لرئ د ارياني پېر څخه پيل کېږي، چې د ريګويدا ويدي سندرې، د اوستا ګاتا سندرې چې د هندوکش غرونو په لمنو کې د مسو پېژندلو لرى يا په پيل پېر کې ۳۰۰۰ مخ زيږدي څخه تر ۵۵۰ مخ زيږدي پورې د هخامنشيانو

( هه ښه منشيانو ) وکمنى پورې ښه څرک درلود، چې نوموړي ساز د يوه کورس په بڼه يا ټولو سره په ګډه يوه اواز په ريتم باندې ويل کېدلې.

د مسلمانانو يا عربانو له راتللو ورسته ۲۲ لېږدېز کې د ټاټوبي په لرو پرتو او کلو او باندو کې په يوه، يوه تن ( بې جوړې) سندرې ويلې او په نيم مرې په بڼه پاتېشوني وو، د سامانيانو ۸۱۹ زيږدى يا ۱۴۴۱ لېږدى )، ګورګينيانو ( ۱۰۸۵ ل زيږدي يا ۱۷۰۷ لېږدي) او تيمور شاه دوراني ( په ۱۱۷۰ زيږدي پورې په ۱۷۹۲ لېږدې ) په واکمنئ کې ساز په دربار کې دود شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلې ■■ 25 چوپړی

د اېنګلېسانو په واکمنۍ کې په نولسمه پېړۍ په دننه ني او باندنيو شخړو او جګړو کې له اېنګلېسانو سره د ټاټوبي ساز او اوز ته د پرمختګ او روزنې ته پېر برابره نه وو، نوموړي هنر په ټول ګډونه ناستو کې او رسمي بلنو د ټاټوبي کې په ډېره کچه پيرودونکي نه درلودل او سندرغاړې چې په ټېټې سطحه د ټولنې په منځ کې ځای درلوده، په همغه پېر کې هم د ساز او اواز خپل مزل وهه.

امير شېرعلي خان په دوېيمه دورې وکمنۍ ۱۲۵۸ لېږدي ( ۱۸۷۹ زېږدي) کې د لومړي ځل له پاره له هندوستان څخه افغانستان ته د هندي ساز او اوز ماهرين راوستل، او هغوی ته يې د خواجه خوردک يا خرابات په سېمه کې هستوګنځي ودان کړل، دوی يوازې د امير دربار ته د ساز او اوز له پاره رابلل شوي وو، او په پيل کې يې همداسې کړني کولې، لږ لږ د نومړو د ساز مخه لورا لور خوره شوه او د وخت په تېرېدلو سره يې په ټولنه کې ځای ومنده، په دې بڼه چې د هندي ساز څپه دلته نوی پل کېښنو د، او ژور اثر يې د ټاټوبي په وګړني نيم مړي ساز و ښېنده، او په دې کې د لږ بدلون او اوډون جوګه هم شو، او د پرمختګ لوری يې نومړي هنر ته برابر کړه.

له دې لورې څخه نوموړو هندي ساز هندي پښت په ټاټوبي کې د ژوندګړو په بڼه ځان و منه، او زامن يې د دې ټاټوبي د ملي هنرمندانو ځای خپل کړه، د ټاټوبي د ساز او اوز د پرمختګ له پاره خپل ژوند وقف کړه، د نوموړو اوستادانو يوه غوره لاسته راوړنه دا وه چې دوباره برابرول د وګړي پېيلو، د افغانستان محلي سندرې يې په هندي کالب کې ځای پر ځای کړي، چې نوموړې وګړني پېيلو له ورکېدو او له منځه تللو څخه وژغورل شوې او د ټاټوبي په رسمي او ټول ګډونه ناستو کې ځای و مونده، د نوموړو اوستادانو بل خدمت د افغانستان ساز ته دا وو چې ښوونه او روزنه د ساز يې زلميانو، نيمچه زلميانو او کوشنيانو ته په ښوونځيو کې ورکوله، د ساز نوموړی دود خپرول په علمي بڼه په ټاټوبي کې ګټور تمام شو، چې يو له هغه سندر غاړو څخه سرغندوی خراباتي و، چې د ساز نوموړی تخنيک له خرابات څخه را و باسي او د ټاټوبي په مرکز يې واړوي غلام حسين اوستاد و، او لومړی افغان اوستاد قربان علي نومېده چې د اوستاد قاسم د محمد نبي ( اوستاد نتو) لاربښود و.

د غازي امان الله خان په واکمنۍ ۱۹۱۹ زېږدي څخه تر ۱۹۲۹ زېږدي کې ساز او اواز پرمختګ و کړه، او د خرابات ښوونې له مرکز څخه ښونيز او روزنيز علمي او اکيډميک ځايونه جوړکړل شول چې په کې د لويديځ سازونو غږول هم په کې ښول کېدل، دولت د لنډ پېر له پاره په ښوونځيو کې کورسونه د ساز او اواز چمتو کول، چې يوه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 26 چـوپـړی ▬▬ د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلې

دغو کسانو څخه چې په نوموړې لار يې خدمت و کړه اوستاد فرخ افندي و چې له ترکي څخه افغانستان ته رابلل شوی و، چې اوستاد قاسم، اوستاد غلام محسين، اوستاد نبی ګل او اوستاد محسن سراهنګ له سرغندوو سندرغاړو اوستادانو څخه ګڼل کېدل.

چې ورسته له ۱۳۵۰ لېږدېزې لسېزې څخه ورسته ساز او اواز د ټاټوبي په ټولنه کې ښه ځای پيدا کړه، له سياسي بدلون څخه ورسته په افغانستان کې ساز او اواز په کابل ښار کې په غوره بڼه پرمختګ و کړه، په هغه وخت کې د نطير هنري ډله، انساميل د مېرمنو ډله، د ساز او اوز وړيا کورسونه، د موسيقۍ ( ساز او اواز) ښونځي او پوهنځي، ښکلي هنرونه بنسټ کېښودل شو، بل لورې ته په ټول افغانستان کې ناوړه سياست او جګړې د ساز او اواز له پاره مخه ډب کړه، اوستاد احمد ظاهر يې په سر و وېښته او ژوند يې ترې واخسته د لويې لارې سالنګو کې، خان قره باغی يې په سر و وېښته او ژوند يې ترې واخسته د کابل منډه يې په منځ کې، عبدالله کندهاری يې ژوندی ترشګو لاندې کړه او بيا يې و وېښته او ژوند يې ترې واخسته، سرغندوي سندر غاړې لکه بخت زمينه د مزايل مرمۍ په سې و تړل شوه، او له هغې ورسته د ملا محمد عمر په وخت کې ساز او اواز حرام و ګڼل شول، ډولونه او د ډمتوب اسباب په دار وځړول شو او په اور وسځيدل.

بل لورې ته چېرې چې نوموړي روزنه، پالنه لېدلې وه او چېرې يې چې ژوند کوو او چېرې چې مړ شو هلته ټنګټکور په درځ کې روان وو.

د حامد کرزي د واکمنۍ پر پېر ۲۰۰۲ زېږدي کې دولت هڅه و کړه چې ساز او اواز (موسيقي) دوباره د پخوا په بڼه ورغوي او کړنې يې په ښې بڼه پرمخ ځي د جمهوريت تر پايه پورې يا ۱۴۰۰ لېږدي پورې په همدې کال يې په وړې مياشت د ملا هيبت الله په دوران کې يې مخه ډب شوه، او له افغانستانه بيا ساز او اواز ګاونډيانو ته کډه و کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 5. په ټاټوبي کې د ټنګټکور (ساز او اواز، میوزیک) سبکونه

**په ټوله کې د ټاټوبي ساز او اواز سبکونه په څلور ډولونه دي، لکه :.**

**لومړی بڼه: وګړي ټنګټکور ( ساز او اوز، محلي موسیقي، سنتي موسیقي، فلکولوریکه موسیقي)، دوېیمه بڼه: مذهبي ټنګټکور ( مذهبي ساز او اوز یا مذهبي موسیقي)، درېیمه بڼه: پاپ ټنګټکور ( پاپ ساز او اوز، پاپ موسیقي، لوېدېځه ساز او اوز) او څلورمه بڼه: ختیځ ټنګټکور ( ختیځ ساز او اوز، کلاسیکه موسیقي).**

### 5. 1 وګړني ټنګټکور ( ګړني ساز او اوز، ولسي ټنګټکور، محلي موسیقي، سنتي موسیقي، فلکولوریکه موسیقي، شفاهي موسیقي)

**هغه ساز او اواز ته وایي چې د افغانستان د سېمو، کلو او باندو څخه ټوکېدلي وي، د هغه سېمو، کلو او باندو دي چې ډېرې سرغندوي وي لکه: هارمونیک یا څوغږه وېستل د نورستان سبک ( کانتیوا سبک)، لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصرۍ لغمانی سبک، چارباغی سبک، د لمپاکا نیمکی، پام او سورکي سبک، د ختیځ داستان سبک، چهاربیته ننګرهاري سبک، پکتیا سبک، غزني سبک، بوستي سبک، د پښتون پښت کلیوالي سبک، قطغني سبک، بدخشي سبک، هراتي سبک، لوګري سبک، خراباتي سبک، هزاره ګي سبک، ازبېکي سبک، ترکمني سبک، پشه یي ( دره یي ) سبک، بلوڅي سبک او پنجشیري قرصک ( چک، چک) سبک.**

**د وګړني ساز او اواز یا محلي موسیقي سرغندوی سندرغاړی اوستاد ګل محمد ګلکی ( لغماني سبک) کې یې ۸۰ کاله د افغانستان موسیقۍ ته خدمت کړی دی، چې غوره لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ، لنډۍ ابزې یې ویلي دي، په اووه ۷ کلنۍ کې یې چې پلار مړ شو په همغه ( ۱۲۹۰ زیږدي) کال نوموړي د خپل کلي شپون سره شپون شو او ځانته یې تولی اخستي وه اوزبېن کې او د امیر حبیب الله خان په واکمنۍ کې لغمان ته راغی، رمه یې پېوله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلې ▬■ 28 چـوپـړی

په تولی کې يې سندرې ويلې، يوه ورځ عبدالحنان ورته وويل راځه دا پېيلې مه وايه زما دغه پېيلې و وايه په کې.

له ځان سره يې خپلې مدرسې خواکې ورته درس وايه، په دې پېر کې عبدالحنان۲۳ کلن و، همغه وه چې د درس په خوند پوی شو، شپنې يې پرېښوده او مدرسه يې شروع کړه په لوست او ليک پوی شو، له اړخبغلې ( يوه سره، زېربغلي درې ژبې ويکی ) سره به يې پېيلې چې توتې ورته يوه سره وهله ده به سندرې ويلې ورته د زيارت کلي کې په نوموړي سبک کې، له لېوالتيا يې د امير حبيب الله په پېر کې له هندو ترکانې چې ارمونيې جوړولې ترکانې هم کوله او ارمونيې يې جوړولې.

اوستاد ګل محمد ګلکی چې تخلص يې شېرزاد و، د محمد خيلو ټبر دی، د نور محمد زوی ۱۲۸۳ لېږدي کې زو کړه شوی و او ۸۹ کاله يې عمر درلوده، په ازبين کې زو کړه شوی وو د ۱۲۹۰ لېږدي (۱۹۱۲ زېږدي) کې لغمان ته راغلو، په چلمټيو کې يې پېژند پانه واخسته او د همدې کلي ژوند ګړ و.

ځلنی ورځ يې د شپې په ۳:۰۰ بجې د سلواغې (دلوې) مياشت، ديارلس سوه او دوه اوياوم ۱۳ / ۱۱/ ۱۳۷۲ لېږدي (۰۴/۰۳/ ۱۹۹۴ زېږدي ) کې يې له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړي. له کډوالۍ ځخه چې راستون شو نو د ننګرهار بېهسودو ولسوالۍ کې پاتې شو او په اومه بياله سېمه کې د شهېدانو په ادېره کې خاورو ته د هغه ځای د وګړو په غوښتنه وسپارل شوو. ,, کورنی ته يې بېسوديانو مشرانو ويل چې مړی ځوک بل ځای ته نه وړي، لغمان ته يې مه وړئ او همدلته يې خاور ته وسپارئ، موږ هم د مشرانو درناوي او غوښتنې په پارهمدلته وسپاره، د رحمت الله د لور لورې مسې د خولې يې او د درېيمې مېرمنې له خولې يې،، په ټوله کې ګل محمد ګلکي دوې ورورنه او دوې خوېندې درلودلې.

ځلور زامن يې درلودل او لس لورګانې يې درلودلې، ځوار لس سره ايل يې وو، له درې مېرومنو ځخه، چې پيلنی ميرمن يې اغلې بېګم جانه نومېده يوه زوی ښاغلی اوستاد پينده محمد پينده او لور يې اغلې زينب ترې زو کړه شوي وو، له دوېيمې مېرمنې ځخه چې اغلې عالم نومېده دوې لورګانې او يوه الک ترې زو کړه شوي وو او له درېيمې ميرمن يې ,, اغلې شيرين تاج د عبدالذاهد لور د الېشنګ کلي ژوندګړې چې اوس ۷۹ کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د عمر کچه ده ،، چې ترې اووه لورګاني، دوې زامن شاغاغا او رحمت ګل زو کړه شوي دي.

## 2 .5 سبک Style, Method ،، ډول، سبك، طرز، نومل، بلل، لقب ورکول. قاعده، نظم، ترتيب لار، طريقه ،،

د وګړني ساز سرغندوی سندرغاړی اوستاد ملاجان ملګی دی په لغماني سبک کې، ګل زمان اوستاد دی په پکتياوال سبک کې، اوستاد فيض محمد پنانا په دره يي سبک کې، محمد چوباش دی په ازبېکي سبک کې، سرغندوی سندرغاړی صفدر توکلي دی په هزاره ګي سبک کې، اوستاد بېلتون دی په لوګري سبک کې، ناوک هروي دی په هراتي سبک کې، بازګل بدخشي دی په بدخشي سبک کې، طلا محمد تخاري په فلک سبک کې، نجم الدين ماما (تغه) دی په فرخاري فلک سبک کې او بنګيچه تاشقرغاني دی په قيصاري سبک کې.

په روغه بڼه د هندي ساز او ورپه سې د لويديځ ساز د لسزېزي په پايل کې د ټاټوبي په وګړني ساز ډېر اثر پرېښوده، چې د دې نويو سبکونو د يوه ځای کولو او خپرولو واک او اختيار د افغانستان ملي راډيو تلويزيون سره وو، وګړني ساز يې له ورکېدو سره غاړه غړی کړه. د اړتيا په پير دوی کولی شوی چې وګړني ساز ځيني سندرې په نوي ساز کې او په نوي کالبونو کې خوندي کړي چې په راتلونکي پير کې له پامه و نه وېستل شي. چې ډېر لږ نوم وړی کار د اوستاد قاسم له لورې رغول شوي او دوباره ويل شوي دي، لکه:

استا برو، نازي جان!، شا کاکو جان. له د په سې اوستاد محمد حسين سراهنګ د شمالي ځيني کوشنۍ برخې، اوستاد عبدالوهاب مددي د لوديځ هرات ځيني کوشنۍ برخې، اوستاد محمد صاديق فطرت ناشناس د پښتو ځيني کوشنۍ برخې ويلې دي او په نومونړی لار يي لږ مزل وهلی دی. اوستاد پيبنده محمد منګل ځيني سندرې دوباره ويلې په نوي او مډرنه بڼه چې د ډېريو وګړو په زړه پورې شوي دي، عارف کيهان څو داني بدخشانۍ وګړني سندرې دوباره نوي کړي دي چې په شمال کې د ډېريو وګړو په زړه پورې شوي دي، نومړي کړنه د ځوانو سندرغاړو له لورې هم ډېره ګټه وره شوي ده لکه د احمد ظاهر، فرهاد دريا، داود سرخوش چې لږې وګړني سندرې يې په لوېديځ ساز يا ټنګټکور کې ويلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 5. 3 مذهبي ساز او اوز ( مذهبي ټنګټکور يا مذهبي موسيقي)

نوموړی بڼه ټنګټکور د اسلامي ارشادات د نعتونه و يونکو له لورې او د صوفيانو او قوالي سبک شاعرانو له لورې منځ ته راغلی دی، چې په اوس، اوس خپل لورې څوکې ته رسېدلی هم دی.

د نوموړي سبک سکالو د الله العظيم ستاينه، توحيد او رسالت يادونه، په اسلام تر قيامته ودرېدنه، په نېغه لاره تر اورستی سا تلنې، د محمد رسول الله حبيب الله ستاينه او د څلورو ملګرو يادونه او ستاينه يې کوي. د نوموړي سبک ځينې پېيلې تر لسو پېره يا ساعته پورې اوږدېږي، ۳ څخه تر ۱۰ پورې يې مل سندربول په ګډه ملتيا کوي، د نوموړي ساز او اوز يا مذهبي ټنګټکور په درې بڼه سبکونه لري، لکه د چشتيه سبک، روضه يي ( مناره يي) سبک او نوايي سبک دی. د نعتونو، دوه بيزو، بوللو او ستاينو پېيلو ټنګټکور اوډون ( کمپوز ) له پخواني پېر څخه شتون لري.

په ځيني پېر کې نعتونه و يونکي ځيني لهجې او په کې ډېره وي او يا يې ترې لرې کوي. چې سرغندوی نعتونه و يونکی په پلازمېنه کابل کې او د افغانستان په ملي راډيو تلويزيون کې سيد فخر الدين اغا دی.

## 5. 4 لوديځ ټنګټکور (غربي ساز او اواز يا پاپ موسيقي)

نوی سبک دی چې ډېر اورېدونکي لري، نومړی سبک د افغانستان راډيو او تلويزيون د بنسټ ايښودلو پېر کې په ۱۲۹۹ لېږدي (۱۹۲۱ زېږدي) کې زو کړه شو، نوموړی ټنګټکور د لويديځ ساز او اواز توکو او اسبابو ټاټوبي ته له راوړلو ورسته ډېر دود وموند، په لويه کې له ۱۳۱۸ لېږدي (۱۹۴۰ زېږدي) څخه ورسته ځوانی ته ورسېده، د ټاټوبي په ملي راډيو تلويزيون کې نوموړي سندرغاړي په اماتور ( مينه ناك، له مينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډك، سويی مسلكي، عدم كسبي، غير حرفه اي) باندې پېژني او نوموړی سبک په اماتوري (مينه ناك، له مينې ډك) باندې پېژندل كيږي.

چې تر ټولو سرغندوی او سرلاری يې احمد ظاهر دی، ورپه سې احمد ولي، اوستاد پينده محمد منګل، ظاهر هويدا، اوستاد زلاند، اوستاد داود وزيري، محمد صاديق فطرت ( پټ نوم , مستعار نوم ، يې ,, ناشناس ،، )، اوستاده مېرمن مهوش، مېرمن پرستو، مېرمن قمرګله، مېرمن بختزمېنه، مېرمن زرڅانګه، مېرمن ژيلا، مېرمن ښنا پېرۍ نغمه، عارف كيهان، رحيم مهر يار، طاهر شباب، جواد غازيار، اوستاد زاخېل، اوستاد مددي، شادكام، فريد، مېرمن وجيهه رستګار، فرهاد دريا، احسان امان، صديق شباب، طاهر شباب، لطيف ننګرهاری، احمد ولي او داسې په سې نور دي، چې د افغانستان پيلنۍ پاپ سندر غاړې اغلې مېرمن پروين او دوېيمه يې ازاده دي، دريېمه يې ښاپېرۍ نغمه ده.

## 5 .5 ختېځه ټنګټكور (زوړ ټنګټكور، كلاسيک ساز او اواز يا كلاسيكه موسيقي)

نومړي ټنګټكور د دري غزل او تراني په بڼه او هندي راګ (نر) يا راګني ( ښځه ) ويل كيږي، د ټاټوبي سرغندوی سندر غاړی د كلاسيک ټنګټكور اوستاد محمد حسين سر اهنګ دی، ورپه سې اوستاد قاسم، اوستاد اولمير، رحيم بخش، اوستاد مهوش، چې د ډېريو افغانانو ورسره مينه ده او لېوال يې دي.

په ختېځه ټنګټكور كې څو سوه ځايونه ځای لري، هر ځای (مقام) يې يوه يا څوداني راګ او راګنۍ لري، ځينې له نوموړو راګونو څخه بې مانا پېيلي دي، په يوه راګ كې ټول اوازونه او غږونه چې سندرغاړی او باسې ډېر په منظم بڼه او زړه راښكونكي وي. كوشنۍ برخې يا پرزې چې اوازيان وايې په ټولو ټنګټكور اوډونونو ( كمپوزنو) كې ځانمنۍ ځای نېسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 5. 5. 1 ځای:

[ مقام، ترانګتوک، خوږه نغمه، غاړه ( لکه لغمانی، پکتيايي غرنی او تيرايي )، اهنګ ]:

په لوېديځ ساز کې د ميلوډي (Melody) په نوم باندې يادېږي. منظم او خواږه اوزونه د پيانو له ۱۲ پنځې (طبيعي) پردو او د ارمونيې (هارمونيه، باجې) له ۵ پېنځو پردو څخه را وځي.

### 5. 5. 2 لغمانی راګ:

غږول له لوړ څخه د ځوړ په لور يا بم څخه زيل په لور.

راګ دی : لا- له- لا- لا- له- لا- لاله- لـــــــله- لـــــــله - له.

**La- Lha- La - La - Lha- La - Lha - LhaLa- LahLha- LahLha - ) (Lha.**

له لرغون پېر څخه لغمانی راګ په لرغون ټنګټکور کې شتون لري، د لنډۍ، ټپې، ټيکی او مصرۍ پاينی مسرې په کچه يې د څپو ګڼه ده، د زورنې يا خج يې په څلورمه، اتمه او او دولسمه څپه دی، او په پاينی څپه کې يې ترنګټوک په ځوړ دی. د ټنګټکور په هره اله کې چې نوموړی راګ پوښ کړې، خوږ د مستی ساز زو کړه کوي. په بله مانا چې رباب په لغماني راګ غوره سر برابر وي، همداسې، ډول، سرنی، او هرمونيه. په هر کچه چې ډېر مزل په نومړو الو کې و وهې په همغه اندازه غوره خوږ ساز برابر وي. او پېيلې په کې په پياوړي سور کې ځای پرځای کېږي.

بل لورې ته يو لرغون افسانوي او تاريخي نکل دی، چې د لغماني او شيطان سره د سفر پلې مزل و له کابل لغمان ته تللو، دواړو سره و ويل چې دواړه به په دې سره روغې ته راشو، چې ته خپلې سندرې و وايه زه به دې په اوړو وړم تر هغو چې دې سندرې خلاصې شي، بيا به زه خپلې سندرې وايم تر هغو چې زما سندرې خلصې شي په اوړو به مې وړې، دواړو سره ومنله، لومړی وار شيطان واخستو او د لغماني په اوږه سپور شوي ښې ډېرې سندرې يې و ويلې لږ مزل يې کړی و خلاص شو، نه شيطان يې له اوږې کوز شو او لغمانی يې په اوږه سپور شو همدا لغمانی راګ: لا- له- لا- لا- له- لا- لاله- لـــــــله- لـــــــله – يې ورته شرو کړه، وار، وار يې تکرارې وايه، چې باديښ ته ورسيده، ور ته يې و ويلې سندره دې خلاصه نه شو، لغماني ورته و ويل تر اوسه خو يې دا سروکی نه دی خلاص شوی، زغم کوه، نو هغه ترې ځان ترای تم کړه د مهترلام د شيطان تمځي غونډۍ کې. چې شيطان ګمک غونډۍ هم ورته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 5 .5 3 د بېلګې په بڼه د پاري ځای ( پاري مقام ):

سا ـ ني ـ ده ـ پا ـ ما ـ ګا ـ ري ـ سا ,, Sa-Ni-Dha-Pa-Ma-Ga-Re-Sa ټول نر دي، ياني له سا نه تر سا (Sa تر Sa ) پورې سپېڼې پردې دي.

### 5 .5 4 سبټاک ( Saptak ):

د ۱۲ اوازونو يا غږونو مجموعه ده، له بم سا ( دو، Do ) سا لوړ څخه نېولې تر سا ( دو، Do ) ځوږ پورې، په ارمونيه کې درې سبټاک شتون لري، او په پيانو کې له ۶ـ ۷ پورې سبټاک شتون لري.

### 5 .5 5 ,, جيجيونتی:

د موسيقي د کماچ ټاټ يو راګ دی، رکهب يې بادي دی په دوو ګندهارو( کومل ، تيور ) او دوو نکهار وويل کيږي، ارو، امرو.

### 5 .5 6 ارو:

غږول له لوړ څخه د ځوږ په لور يا بم څخه زيل په لور.

ارو راګ دی : سا- ده- ده- ګي- ده- ما- نا- ده- په- ده- ګي- ما- پا- ني- سا. ( -Sa (Dha- Dha- Gi - Dha- Ma- Na- Dha- Pa- Dha- Gi- Ma - Pa- Ni-Sa

### 5 .5 7 امرو:

غږول له ځوږ څخه د لوړ په لور، يا له زيل څخه د بم صوت يا غږ يا د غور اواز په لور.

امرو راګ دی: سا- نا- ده- پا- ما- ري- ګا- ده – ني- سا- ني- سا- ري- ګا- دي- سا (Sa-Na-Dha-Pa-Ma- Re- Ga- Dha- Ni- Sa - Ni- Sa-Re-Ga-Di-Sa) ‹‹(
صفي الله، ۱۳۸۸ ليږدی، ۷۶، ۳۸۹ او ۳۹۰ چوپړی)

### 5 .5 8 راګ يا رګ (Raga):

په يوه ځای يا مقام يا ترنګتوک کې د غږونو د ځېرو کيلي ( کونجي، چابي) ته ويل کيږي، په ټوله کې راګونه په لاندې بڼه وېشل کيږي، بيروي، ګولا بيروي، کستوري، پاړي، کليان، همن کليان، بيوپلاسي، اساوري، بهرامي، بهلاول، سرنګ، تلنګ، ګنداره او نېشاپوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. په یوه ځای یا مقام کې موږ کولی شو چې په میلیاردونو کمپوزونه جوړ کړو خو په ختېځه ټنګټکور یا کلاسیکه هندي موسیقي کې هر مقام ځانته یوه راګ او ځوداني راګني لري.

یوه سندرغاړی چې وغواړي غوره سندره و وايي او په ټنګټکور غوره پوی شي له ټولو نه وړاندې ورته اړېنه ده چې د هر ځای راګونه ښه برابر او ډولي په تال او نرمۍ سره و وايي، د ارو او امرو باندې غوره تراڼ کولی وشي چې له یوې ټېټې پردې څخه د لوړې پردې په لور او له لوړې پردې څخه ټېټې پردې په لور په کومه ښه لاړ شي، په رښت کې راګ هغه کیلۍ ده چې یو سندرغاړی پوګړی او خوږ غږی کوي.

دانو له دې سره توپیر لري چې د راګونو د ویلو په پېر کې د انسانانو په تن باندې تاثېر کوي.

د ببلګي په ښه بیروي راګ، پاړي او کاستوري د ورځي د ودونو او ناستو کې ویل کېږي، او اساوري راګ د شپې له ۲ بجو ورسته ویل کېږي، راګونه په فصلونو، د اوریدونکو د عمر په کچې، او د هغوی د ډول اورېدونکو تر یوه ټاکلي واټن پورې اړه لري، د پسرلې، دوبي، مني، ژمي، الوتلو، کېناستلو، تللو، تراڼ، برېد، تړاک، حملې، جرګې، تړې، پرېکړې، ورم، لاربښونې، ځغاستې، سیالیو، رهبرۍ، بیدارولو، خوبولو، هوساینې، ارامولو، سهار، غرمه، ماذیګر، ماښام، نیمې شپې سازونه تر خپل منځ توپیر لري.

ډېری ایراني او عربي کمپوزونه چې سرې اند او وند کوي د انسانانو له فریادونو، زګېرویو، کرېکو او ژړا څرګندول سپېنې ته راوباسي په اساوري او بهال بهلاول راګونو باندې روغې کړې وي، نوموړي راګونه یوازې او یوازې په شپه کې ویل کېږي.

## 5. 5. 9 پرزه:

د راګ او یوه کمپوز په منځ کې ښوونې ته پرزه وايي.

## 5. 5. 10 تال ( Tala):

د دوې ګړیو یا طبلې وهل په بریالی ښه چې له ترنګټوک ( اهنګ اواز ) سره موازې وي او اورېدونکي ارامه وساتي ورته تال وايي، که چېرې دوې ګړیوواالا یا ډولچي او یا نغارو والا د وهلو په دوران کې غلت شي د بې تال ( بې لهي ) باندې یادېږي. په ټاټوبي کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر تالونه دي او ترې ګټنې اخستل کېږي په دې بڼه دي: ۱۶ تين تاله، ۵ ګېده ماتره ، ۷ دادره ماتره ، ګست تاله ماتره او يوه تاله بڼه شتون لري.

هر يو تال يوه لا ياني پنځي ( طبيعي) دوې لا يا تېز حالت لري. يوه تال څوبڼې يا ماترې لري، په دې اخېر پېر کې وګړو درې لا او يوه تال وپېژنده چې ډېر ګړندی او تېز منډه لري.

## 5 .5 .11 ماتره ( Metre ):

د تال هر وهل ( ضربه، ډب) ته يوه ماتره وايي.

## 5 .5 .12 ټيور يا ټيورا (Tivra ):

د هندوستان د ټنګټکور په پښويه کې شتون لري، چې پېنځم سورونه ترې کموي، **Sol** يا **Pa** او پيلنی **Sa** يا **Do** د نيم سوري رښت ګڼي، يا د نيم سورۍ رښت دی. په همدې ستېه له ټولو ۱۲ سرونو څخه په يوه سيټاک يا اوکټيو ( **Octave**) کې پېنځه سوره ټيورا ( **Tivra** ) درانه يا ثقيل دي او پېنځه نور سورونه کومل (**Komal**) يا نرم يا خفيف دي او دوه پاتې سورونه يا نوټ خپلواک دي. بل لورې ته په لويديځه ټنګټکور کې په دې بڼه شتون نه لري.

## 5 .5 .13 سور يا سوارا (Swara):

سم برابر يا منظم ويلو ته چې په زړه پورې وي ورته سوارا يا سور وايي. ياني كه كوم سندرغاړی چې تال نه شي د ساز سره برابر او ورته وغږول شي او غږ روغ او منظم وباسي ورته سور ويل كېږي.

## 5 .5 .14 لی یا لهی:

سندر غاړی چې د دوبګړيو په تال يا (د طبلې، ډول او ډرم) او يا د نغارې په تال روغ، منظم او مساوي و وايي په لی ( لهي) سندرغاړی ورته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. ټاټوبي د ټنګټکور الې ( وسايل، اسباب )

**د افغانستان ملي ساز د رباب غږ دی، چې له تاري (نبغ له لومې او تاره راوتلی غږ اوباسې، زهي، ارشه يي) سازونو له بنې ځخه دی، لنډ لاستی لري، چې په ګوتو او يا په شړانګوشته، پترې يا کمانه باندې وهل کېږي، چې د زهي سازونو له ډلې ځخه نور اسباب هم شتون لري لکه اوږده لاستي لرونکي تنبور، دوې تاره، درې تاره، دمبوره، او په پرتو بڼه الې يې چې زهي ساز کوي سرنده، غجکه او بېنجو دي. ,, تنبور، دوتار، د ننګرهار رباب، ۱۴ سبمه هراتي يوازې او يوازې هغه سازونه دي چې ننه ني افغانستان پورې اړه لري. د افغانستان اصلي سازونه په لاندې بڼه دي: ،، د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۰۷ چوپړی)، ( عبدالوهاب، لېږدی، چوپړی )، ( لويس ډوپري، ۲۰۰۲ زيږدی، چوپړی )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 1.6 تاري (نيغ له لومې او تاره راوتلی غږ اوباسې، زهي، ارشه يي) سازونه:

### 1.1.6 رباب :

له ډېرو پخوانيو تاري سازونو له ډلې څخه دی چې لېندۍ بڼه شتون لري، او افغانستان د ټنګټيکور لرغوني سرغندوي اله ده، نوموړی ساز له عود ( بربط) څخه پاتې دی، د څېړی، شهوې، غوځ او توت له لرګي څخه جوړېږي، کوشنی غاړه لري، او په لاندې برخه کې يې نس (کاسه) ده چې د څېرلې، اوزې، پسه او يا د مرغومي او کبلۍ پوستکي باندې پوخل شوی دی، لنډ رباب ۹۲ سانتي متره اوږدوالی لري چې ټول ټال ۲۱ تارونه لري، رباب ځوارلس پردې لري او درې ميلوډي تارونه، او څو داني د بم تارونه لري، او څوداني د مرسته کوونکي د غبرېزه تارونه ( سمپاتيک يا خپل سره اواز وېستنه) لري. سيمپاټيک تارونه غږ او کرېکه د غږونو ورکوي ( لکه چې په نس کې يې دننه کومه کوټه د ژغهاري شتون لری چې خوږ غږ په خپل سر خپروي).

د نوموړي الې د وهلو چل په دې بڼه دی چې وهونکی نس يې د درې څنډې په بڼه باندې دی چې د لاس او ګوتو په حرکت سره په تارونو باندې له بره څخه لاندې لورې ته وهل کيږي، او بل لاس چې غاړه يې پرې نيولې ده، د نس له پاسه چې کوم پوستکی دی يو وهونکي غږ د ساز توليد وي.

ترټولو کوشني او لنډ تارونه چې د رباب په اړخ يا بغل کې شتون لري، ورته مرستندويه تارونه د ساز هم وايو چې د سيني له پاره يې چې وتلې ځای دی ( په اړخ لور کې پورته لورې د ساز کې شتون لري) تو شوی دی، چې ځان ته په ځانمني بڼه ووهل شي، په نومړي کرنلار نوموړي سيمونه د بم غږ توليد وي، چې په ځانګړې پېر کې يې غږولو ته الوتنې او الوتلو ( پرنده کاري) باندې هم يادوي، چې په دې بڼه وهلو سره ربابي ترلې او خوا پرخوا بېلا بېل ريتمونه توليد وي، څېړنې دا سپيني ته را اوباسي چې نوموړي ځانګړي هندسي ډولونه او ډيزاينونه ګډې اړيکي سره لري، او تر ډېره پورې د اسلامي هنر پورې اړه لري، په لوی کور يا ټاټوبي کې درې بڼه ربابونه شتون لري، پيلنی بڼه يې د بم رباب په نوم سرغندوي ده چې لوی رباب هم ورته وايي، دوېيمه بڼه يې منځنی رباب دی او پاينی يې کوشنی رباب يا زېرچه دی. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه (جان بيلي، ۱۳۷۳ لېږدی، ۱۰ چوپړی)، ( نصر الدين، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۰۷ څخه تر ۱۰۷چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱:- د رباب انځور ( # ۱ انځور )







۲:- رباب د ښاپ، ځنډی او نس انځور ( # ۲ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۳:- د کابل پوهنتون د هنرونو او ادبیاتو پوهنځی زده کړیالۍ فضیله ضمیر انځور ( # ۳ انځور )



۴:- د کابل سرینا هوټل د ټنګټکور ډله چې منځ کې ربابي له رباب سره، ښي اړخ ته يې تنبورچي له تنبور سره او ګسټ اړخ ته يې تبله چي له تبله سره انځور ( # ۴ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2 .1 .6 تنبور:

یوه له زهي ( ارشه یي، نبغ له لومې او تاره راوتلی غږ) سازونو له بنې څخه دی چې لرګی یې د توت له ونې څخه جوړېږي، چې اوږد والی یې ۱،۲ یوه عشاریه دوې متره دی، تنبور دوې اصلي او ۱۵ فرعي تارونه ( سیمونه ) لري، چې ۲۷ اووه وېشت پردې لري، تارونه یې د لاستي له پورتنی برخې او له ګېډې ( نس، کاسې، خېټې) څخه یې تېر شوي دي، چې د لاس د ګوتو په وهلو سره خپل غږ یا اواز اوباسي او د ټاټوبي په دېرو سېمو کې یې له اواز څخه ګټنې اخستل کېږي. د لیکوال ژباړه ( نصر الدین، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۴۵ چوپړی)




۵:- د تنبور انځور ( # ۵ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۶:- کابل د هنرونو ستر ښوونځي ښوونکې او د زده کوونکو انځور ( # ۶ انځور )




۷:- د کابل د هنرونو ستر ښوونځي زده کوونکو انځور ( # ۷ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3.1.6 چنګ:

**يو كوشنى اوسپنېزه ساز دى چې د مخکېني غاښونو نېولو باندې نېول کېږي چې په يوه لاس باندې يې ټينګ نېولې وي او د بل لاس ګوتو په ژی وهلو سره خپل غږ يا اواز اوباسي. په همغه پېر کې اړين بايد سا و وېستل شي، د دې له پاره چې د اوازونو کنټرول او څارنه د اواز زير او بم يا څوړ او لوړ د چنګ د خولې په هواوېچه کېږي چې په دوامداره توره له خولې څخه راوځي، په لويه کې لېوالي انجونې او زلمي او مسلکي هنرمندان ( حرفه يي هنرمندان) يې د افغانستان شمال او سويل لوري ته ترې ډېره ګټنه اخلي. د ليکوال ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ ليږدى، ۱۳۲چوپړى)**



**۸:- د چنګ انځور ( # ۸ انځور )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 4.1.6 څلور تاره:

په کومه بڼه چې له تاري اسبابو يادونه و شوه لکه تنبور او رباب چې څلور او يا ډېر تارونه لري ترې يادونه شوي، په ټوله مانا هره يوه غوټه د څلورو تارونو او څلوره تاره ځانته يو ستاين لري او يوه ساز يې ګڼو، هره اله چې څلور تاره ولري کولی شو چې پر څلور تاره يې ونومه وو، نوموړی ساز چې له خپل غږ څخه يې چې لري له نورو ټولو وسايلو سره چې وګړني ټنګټوکور د افغانستان کې شتون لري سره بېلوالی د خپل لري، په تار او څلورتاره او شپږ تاره سره شتون لري. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۲۸چوپړی)



۹:- د څلور تاره انځور ( # ۹ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 5 .1 .6 دمبوره:

سرغندوي اله د افغانستان د ساز ده چې په تاري بنه شتون لري او دوې ليلوني يا نايلوني تارونه لري. نومورې ساز ( اوسپنيز تاره، پرته له سيمي تاره) وي، له دوې برخو څخه جوړه شوي وي، لاستی يې ( ستونی) او ګېډه يې ( کاسه، خېټه ،نس) چې د اوازونو د زورنې له پاره جوړ شوي دي، نومړی ساز او ګوټکونه يې د توت له لرګي څخه جوړ شوي دي، د کاسې پرمخ څو دانې سوري دي چې د اوازونو يا ساز ترې راوځي د درې څنډې په بڼه يا يوه څنډې په بڼه سوري کيږي. اوږدوالی يې ۷۰ سانتي مترو څخه تر ۱۰۰ سانتي مترو پوري دی. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( لويس ډوپري، ۲۰۰۲ زيږدی، د اي ټمبونی يا افنډيکس اي چوپړی )





۱۰:- د دمبورې انځورونه ( # ۱۰ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 6 .1 .6 دوې تاره:

**یوه تاري ساز دی چې د توت له لرګي څخه جوړېږي، ۱۲۰ یوسلو شل سانتي، یا یوه مېټر او شل سانتي اوږدوالی لري، د لاس ګوتو نوکانو باندې وهل کېږي، په پیلنیو پېر کې نوموړي تارونه د څېرلي، اوزې، پسه او یا د مرغومي او کبلی له کلمو یې جوړ وو، چې د پېر په تېرېدو سره ورسته، ورسته یې لړ بدلون و موند چې اوس یوه اصلي ، ۱۳ فرعي تارونه لري او ۱۹ پردې لري، چې د افغانستان شمال او سویل لوري ته ترې ډېره ګټنه اخلي چې په هراتی دوې تاره، ترکمنی دوې تاره، ازبېکی دوې تاره باندې سرغندوي دي.**
**د لیکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدین، ۱۳۸۳ لیږدی، ۱۲۱او ۱۲۲چوپړی)**



**۱۱ :- د دوې تاره انځور ( # ۱۱ انځور )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. 1. 7 غجکه، چېغکه یا رېچکه:

له تاره جوړه په پره تو بنه ده چې د ایراني لندۍ بڼه یا کمانچه سره ورته والی لري، چې دوې تاره د سیم یا د لومي لري، او لاستی یې استوانه یې دی، او د سر برخه کې یې دوې پېچې بنه لرګین میخونه ځای پرځای شوي دي، کاسه یې یا نس یې ګرد دی او د توت او شهوې لرګي څخه جوړېږي چې د اوزې په پوستکي باندې پوخل شوي وي. لاستی یې بیا د چینار له لرګي څخه جوړېږي، د غجکې د غږولو له پاره باید غجکه په ولاړې ودرول شي یا عمودي او په لاستي (ارشه) باندې وهل کېږي، په ټوله کې د غجکې اوږدوالی ۸۷ سانتي متره وي. د لیکونکي دېرونه او ژباړه ( لویس دوپري، ۲۰۰۲ زېږدی، د اي ټمبونی یا افنډیکس اي چوپړی )



۱۲:- د غجکې، چېغکې یا رېچکې انځور ( # ۱۲ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۳:- امين غجکماری چېغکه يا رېچکه يې له مومن غوړيو له ټيم څخه جوړ کړې او وهي يې او کاکړی غاړې ورسره وايې له څو تنو مجاهدينو ملګرو سره يې انځور ( # ۱۳ انځور )



۱۴:- د محلي سندرغاړي فلک بدخشاني غجکماری چې ښي لورې ته يې په ديوال ننګرهاری لنډې رباب ودرولی او کيڼ لاسته يې په ديوال بدخشانی دمبوره ودرولې انځور يې ليکوال پرې کړی ( # ۱۴ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 8.1.6 سرېنده:

**له تارونو جوړ د ساز کورنۍ پورې اړه لري چې د توت له لرګي څخه جوړېږي، او نس يې د اوزې په پوستکي باندې پوخل کيږي، اوږدوالی يې ۶۵ سانتي متره وي، په لاستي يا کوشنۍ لينديۍ باندې غږول کيږي، درې اصلي تارونه لري او ۱۷ فرعي تارونه لري چې ټول شل تاره اوسپنيز يا مساله يې تارونو لري، سرېنده پردې نه لري، د ټاټوبي په سويل ختيځه سيمه کې ډېره غږول کيږي. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ ليږدی، ۱۳۲چوپړی)**



**۱۵:- د سرېندې يا څرېندې ډولونو انځور ( # ۱۵ انځور )**

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۶ :- د ټاټوبي د ټنګټکور الې چې په منځ کې يې سرېنده ده، ښي اړخ ته يې يو رباب او دوې رنګړیَ (تولیَ) ايښې دي او کيڼ لورې ته يې درې تاره ايښې دی، د ټاټوبي لرغون ټنګټکور توکو انځور ( # ۱۶ انځور )



۱۷ :- د ټاټوبي بلوڅي ټنګټکور کې د ديرا او سرېنده سره ګډ انځور ( # ۱۷ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 9.1.6 سرنی:

**له تارونو جوړ د ساز کورنۍ پورې اړه لري، د نورستان وامای سېمې پورې اړه لري، د غږوروکونکي نس يې د چنګ په بڼه دی، چې د توت، څېړی، شهوې له لرګي څخه جوړېږي، او نس يې د اوزې، کبلی، څېرلي يا مږ په پوستکي باندې پوخل کېږي، او د الي سر يې تور غوځاني (قهويي) رنګ لري، د نومورې الي سورې يوه دانه يوه دانه او درې کونجي دي. غاړه ( لاستی) او د سر ميخ يې لرګين پيچ په بڼه دی، دواړه اړخه يې همغه لرګی دی، چې نس يې ترې جوړ شوی دی چې توګلی يې دی منځ يې، دوې تارونه يې سره تو کړل شوي دي، د سر په برخه کې د دوې وو لرګين پيچي ګوټکونو په بڼه کلک شوي دي، نومورې تارونه چې په اصل کې لوړ تارونه دي چې په دوې برخو وېشل شوي دي، د ساز له ستونې څخه چې ۱،۵ يوه عشاريه پينځه سانتي ځای لري تېرېږي، د نومورې ساز د غږولو له پاره په ولاړه باندې ودرول کېږي او او د ګسمتي ګوتو په نوکانو باندې وهل کېږي او ضربه پرې راځي. د سرني اوږدوالی يې ۵۹ سانتي متره او لوړوالی يې ۱۰ سانتي متره دی. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( لويس ډوپري، ۲۰۰۲ زېږدی، د اي ټمبونی يا افنډيکس اي چوپړی )**



**۱۸:- سرنی د نورستان وامای سېمې پورې اړه لري، د سرنی انځور ( # ۱۸ انځور )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 6. 1. 10 شپږتاره:

له تارونو جوړ د ساز کورنۍ پورې اړه لري، لس تاره ( سيمه)، ۴ تاره يې شريکه او ۶ تاره يې مرستندويه تارونه دي، له دوو برخو څخه جوړ شوی دی، يوه برخه يې نس چې د توت لرګي څخه جوړيږي او دوېيمه برخه يې لاستی دی چې د چينار له لرګي څخه جوړيږي، د نس پرمخ يې د اوزې پوستکی کش کيږي، نومړی ساز د وهونکي ( مضراب، زخمه) په ضربه باندې وهل کيږي، د يوه نارمال شپږ تاره اوږدوالی ۷۵ سانتي متره وي.



۱۹:- د شپږتاره انځور ( # ۱۹ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. 1. 11 بينجو:

بينجو له تارونو جوړ د ساز کورنۍ پورې اړه لري، له هندي اله ده چاپانۍ يې هم ګڼو له ۱۰۰ کلونو څخه په لغمان کې ترې ځوانان په ښاديو او ناستو کې ګټنې اخلې، د دې سېمې ترکاڼانو به د توت لرګي، شوې لرګي، مزې او نکلې تارونو او ښنو څخه رغولې، په مزراب سره غږول کيږي د بينجوماري ګوتې تارونو او فريټونو ته لاس نه ورکوي، او دا عمل د بټونو يا ګوتو او فلزي تيغونو سره ترسره کيږي. بينجو اوږد جيوميټريک غږ بکس لري، د کمې ژورې سره، په کې د لرګيو تخته شتون لري، په دې تخته کې والټ نصب شوی. دا آله 6 chords، 6 chords او 3 لږځېدنې لري. د بينجو دوه اصلي تارونه، يعنې دريم او څلورم تارونه، د اصلي فريټبورډ څخه تيريږي. نور دوې لږځېدنې په لومړي او شپږم وروستني chords پورې اړه لري، دويمه او پنځمه chords لږځېدنې نه لري. د بينجو فلزي پردې يوازې دريم او څلورم تار لمس کوي، پاتې تارونه په آزاده توګه کارول کيږي. د وسيلې په تخته کې د لرګيو يوه اوږده ټوټه د پردې او اصلي لږځېدنې له پاره د اډې په توګه شتون لري، په دې بيس کې، چې د بينجو لاستي دی، پردې د پتلې فلزي تيغونو په شکل کې ايښودل شوي. د ريزونټينګ بکس کې د لرګيو ساتونکی هم شتون لري چې لاندې يې تنۍ يا ګوتې نصب شوي. د هر رنځ له پاره يو ګوتې شتون لري چې د بينجوماري د چپ لاس ګوتې ورسره اړيکه لري. د لوبغاړي کيڼ لاس لاندې د بټونو ځای د پيانو ښتو ځای ته ورته دی.

د بينجو پرده د ثابتو فلزي پټريو يا پردې په نصبولو سره د تيمبورين کروميټ غږونه جوړ وي. نږدې معاينه ښيي چې د پردې په نصبولو کې د دقيقيت نشتوالي يا د موسيقۍ د لاسوهنې له امله، د دې وسيلې لخوا توليد شوي غږونه اکثرا د تيمبورين د کروماتيک پيچ وقفو سره په بشپړه توګه ورته والی نه لري. بينجو د نرم پلاستيک څخه جوړ شوي مالټ سره وهل کيږي، ترڅو مالټ تقريبا د ټولو تارونو سره په تماس کې وي. د بينجو د ځانګړي جوړښت له امله، دا وسيله د ښي لاس فعاليت پراخه تخنيکونه نه لري. په دې آله کې د ښي لاس تر ټولو مهم تخنيکونه موزاراب، موزاراب شا، رز او دوراب دي. د کيڼ لاس ټولې پنځه ګوتې د بينجو د تڼيو يا ګوتو د نيولو له پاره کارول کيږي.

نن ورځ، د ټاټوبي سرغندوی بينجوماری طاووس د ملاجان ملاګي وراره او اپنځری اوستاد په ټولو سيمو کې، په ځانګړې توګه په ښارونو کې، بينجو د الېنګار د موسيقۍ په مختلفو نمونو کې کارول کيږي، په ځانګړې توګه په لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ سندرو په ترسره کولو کې. بينجو په ټاټوبي کې د نورو عامو سازونو تر څنګ د ټاټوبي موسيقۍ په ډلو کې غږول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






۲۰:- د بينجو انځور ( # ۲۰ انځور )



۲۱:- لغمان د محلي سندرغاړو د پرې شوې شيبې له بينجو، منګي او چيلمچي سره انځور ( # ۲۱ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. 1. 12 واج ( وونز):

له تارونو جوړ د ساز کورنۍ پورې اړه لري، د لغمان درو او په نورستان کې پيدا کېږي، د لينډۍ په بڼه ډول لري، له چنګ سر نږدې والی لري، له څلورو کلمه يې تارونو لري، او په ورينه ټوکر باندې چې د لرګينه لندۍ باندې ټينګ تړي، او نږ غوځاني يا قهوي رنګ لري، د دې له پاره چې غوره انګ ولري، لندۍ يې په منځ د نس کې په دوې برخو وېشلې ده د اېنګلېسي 8 عدد په ډول، لندۍ په دوې ځاينو کې د حيواناتو په پوستکي په مزو باندې يې د نس له پاسه ټينګوي، پورتنۍ برخه د نس د اوزې په پوستکي باندې پوخل کېږي چې اواز يا غږ له تارونو څخه لاندېنۍ نس ته ولېږدوي، د واج غږ ( Tuning ) او درې مزله انګ (Tritone) دی: CDEF ( د لويي ډوپري له خولې).

د واج اوږدوالی ۴۷ سانتي متره وي، لوړوالی يې ۳۵ سانتي متره وي، وهونکی لينډۍ يې هم له ورته لرګي څخه جوړ وي، او وهونکي لينډۍ په تړل شوي کولمه باندې په ساز اوړي. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( لويس ډوپري، ۲۰۰۲ زېږدی، د اي ټمبونی يا افنډيکس اي چوپړی )



۲۲:- د واج ( وونز) انځور ( # ۲۲ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۳:- کانتیوا او د نورستانی مېرمنو د ګډې نڅا انځور ,, پیرو مرنډي، ایټالیاوی دره ګرځندوی په کافرستان کې، د انسان پېژندنې دوره او د توکم پېژندنې موزیم ټولونه، ۱۰ څېره، د نڅا تیارول ،، (پیرو مرنډي، ۱۹۶۸ زیږدی، ۱۴۱ چوپړی) ( # ۲۳ انځور )



۲۴:- نورستانیانو د ګډې نڅا انځور ( # ۲۴ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library




## 6. 2 د پوکي سازونه ( بادي سازونه)

### 6. 2. 1 سورني ( سورنا، سورنای ):

د پوکي سازونه دي، او د هندي شمابه په بڼه دی، د شهوېِ له لرګي څخه جوړېږي، د سورني اوږدوالی ۴۰ سانتي متره وي، ژبی لري چې له کړکي څخه جوړ شوی وي، سورنی اووه سوري لري، یوازېنی لرغونی ساز دی چې په ټول ټاټوبي کې یوازې د فني هنرمندانو یا کسبګرو(نایېنو، خلېفګانو چې د هر ټبر او قوم دي، ځانته یې خپله کسب او پېشه ګرځولې وي) له لوري غږول کېږي، او ډېری له ډول سره ګډ وهل کېږي، نوموړي ساز نه په ټول افغانستان کې بلکې په ایران او ترکي هېواد ته یې هم لاره ومندله، سورني والا او ډول والا یا سورنیچي او ډولچي په لویه کې په ودونو کې، تړو کې، انشر، سیالیو، جرګو، ښه راغلاست، نخښنه وېشتونکو، اس ځغله ونکو، نېزه وهونکو، مذهبي اخترونو، دودېزو مېلو، لوبغالو په کونجونو، غېږو، وزلوبو، او ټولګټه ودانیو په رسۍ پرې کونه او بنسټ ایښودنې، لوړ پوړو ودانیو په ودانولو، د سړکونو په رغولو، د ژورو کوهیو او د اوبو ویالو په کېندلو په بشپړولو او پټۍ بیاتي کولو په دوران کې غږول کېږي.

ډولچیان او سورنیچیان د یوه ټبر پورې اړه نه لري، د دوی جوړه د ټاټوبي په هره سېمه کې مندل کېږي، یواځینی توپیر چې د ډولچیانو او سورنیچیانو له نورو هنرمندانو د ټنګټکور سره لري هغه په دې کې دی چې په ټولو اسانتیاوو د ټنګټکور کې لېواله او فني کسان ومومۍ، یوازې ډولچیانو او سورنیچیانو دي چې فني یا حرفه یي نه دي بلکې د یو میراث په بڼه له لرغون پېره ورته د کسب په بڼه پاتې دی. د لیکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدین، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۴۳چوپړی)



۲۵:- د دبه نی (دبني سورنی) یا د سرني ډولونو انځور ( # ۲۵ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۶:- د سورنی او ډول انځور د هوټل په واده کې له سورنیچي او ډولچي سره.
( # ۲۶ انځور )



۲۷:- سورنی ( سورنا، سورنای) شریف خان خوستي د ټنګټکور الې لکه سورنی باجې، ډولک او ډول انځور ( # ۲۷ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2.2.6 رنګړی (تولۍ، توله، غوږګه، کړکی یا نی)

د ټاټوبي لرغوني د ټنګټکور اله ده، چې له پېريو پېريو را په دېخوا په بېلا بېلو بڼه جوړه شوي ده او په ټاټوبي کې هم لرغوني پېخليک لري، په کومه بڼه يې چې نوم دی، ترې ښکاره ده چې له کړکي یا غوږګې څخه جوړېږي، او په بېلابېلو اوږدوالي موندل کېږي، عربانو هم په ورته بڼه د پوکي ساز در لوده چې د تولۍ په ډول و دوی ورته قصابه ويل، او نيمګړی ساز يې درلوده چې ورسته يې خپل ځای کړکي ته پرېښوده، تولۍ تر ټولو پنځي ساز د انسان دی، چې ورته د شپون غږ هم وايي، اروپايانو نومړی ساز بشپړ کړه او په بله بڼه يې واړوه چې ورته فلوت وايي، چې د لرګينو الو په منځ تر ټول غوره غږ ښکونکی دی، تولۍ په ټول ټاټوبي کې دود و، په ځانګړي بڼه په شپنو کې چې کله به يې د اسونو، پسونو، اوښانو، څېرليو، غواګانو ګلې پېولې نو د خپل وخت د تېرولو، مشغولتيا او لېوالتيا پوره کولو له پاره به يې تولۍ غږولې. له همدې اړخه په لوی کور کې ورته د شپنو تولۍ ( د شپنو رنګړی،د شپنو غوږګی، کړکی، نی، پوپک یا د ولې له لښتې د ډنډر او باسې او یوازې پوټکی يې غږ لېږدوي) وايي. اوسپنېزي، د ژېړو او ښکرو هم جوړېدلې، پېړی، پېړی وړاندې پېر کې په هرات ښار کې چې د ايران، هند او ترکي پلازمېنه وه د ټنګټکور بله اله چې تونت نومېدله په ښار کې پېرودلې او پلورل کېدلې چې د کب په ډول وي او تور رنګ يې درلوده ډېری زلميانو او نويو زلميانو به غږولې. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۴۰چوپړی)



۲۸:- د رنګړی ( تولۍ، توله،غوږګه، کړکی یا نی) ډولونو انځور ( # ۲۸ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۹:- نورستانی ښځې د رنګړی (تولی) غږولو انځور ( # ۲۹ انځور )



۳۰:- جانان غزنيچي عابد د تولی غږولو انځور ( # ۳۰ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3.2.6 ارمونيه، هارمونيه يا باجه:

بادي ( هوايي، پوکي، وږمه يي، ببوزي) ساز دی، غبرېز نلونو دي چې له پيانو سره ورته والی لري، د پردو يا ببوزو په خورولو سره په لاس باندې په بټنو باندې زورنه راولې او بټنې يې اوز ورکوي، د ارمونيي او اورت ترمنځ بېلوالی پر دې کې دی چې په باجه کې د هواويچې زورنه جريان پورته لورې ته کوي او په اورت کې د هواويچي زورني جريان کوز لورې ته کوي. په لويه کې نوموړی ساز په ولاړه وهل کيږي، او بله بڼه يې هم شتون لري چې په غاړه کې اچول کيږي، د ځانګړي تسمې يا پټۍ په مرسته، نوموړي وسايل پرې او ببوزي ( پکي ) هم لري چې ورته اکارديون وايي. لکه څنګه چې په افغانستان، هندستان او پاکستان کې ټنګټکور په کلاسيکو ناستو کې او وګړني غونډو کې په غولي باندې سر ته رسوي، هندوانو وکړی شو چې د همدې ساز په سټه لويديځ ساز هم ورغوي او کشف کړي او په ناسته پرې په نوموړي ساز کړ شي، ارمونيه يې پرې نوم کېښوده، چې په اصل کې لويديځ ساز دی، هغه سازيان چې پر ولاړه ارموينه وهي دواړو اړخوته يې تناب تړې يا پټۍ او هغه په غاړه او اوږه کې ځوړندوي او بيا يې غږ وي، د ارمونيي غږول په کلاسيک ټنګټکور ډېلو کې دود وو، ډېريو سندرغاړو چې اماتور(شوقي، لېوال يا مينه ناک) او فني وو نومړي غږول او نومړی ساز به يې په ربښت بڼه غږو. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۴۱چوپړی)



۳۱:- د ارمونيي، هارمونيي يا باجې انځور ( # ۳۱ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۳۲:- الله بخښلی احمد ظاهر د شرق الماس د ارمونيې وهلو په دوران له الله بخښلې اوستاد نبی ګل او الله بخښلې اوستاد ولی سره انځور ( # ۳۲ انځور )



۳۳:- د کابل د هنرونو ستر ښوونځي زده کوونکو انځور ( # ۳۳ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. 3 دوهلو ساز، ضربه يي ساز ( چې اله په لاس يا ضربه وهې خپل غږ اوباسي)

### 6. 3. 1 دايره (د يرا):

د وهلو ساز دی، چې د غوځ، څېرۍ، توت او شهوې له لرګي څخه جوړېږي او د وزې پوستکي څخه په کوشنۍ او لويه دايره وي بڼه جوړېږي.

د دايرې جوړولو له پاره دېرى د شهوې له لرګي څخه په ټاکلي پېړوالي تخته او باسي او په اوبو کې يې دوې ورځې ږدي، او بيا يې د داېرې په بڼه ګرد وي، دواړه ژۍ يې سره په ميخونو ټينګ وي، بيا پرې د پسه، څېرلي، اوزې، کبلۍ، مږ پوستکى چې وړى ترې لرې شوي وي، په هوا کش شوى وي په سريخ باندې يې ژۍ ګانې لږي او پرې ترې يې، په ټول ټاټوبي کې دايره د کسبي هنرمندانو، لېوالو، تاليبانو، ملايانو او ډيرى يې د مېرمنو او انجونو په ودونو او ښاديو او کورنيو ناستو کې وهې. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ ليږدی، ۱۴۰چوپړی)



۳۴:- د دايرې (ديرا) انځور ( # ۳۴ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2 .3 .6 ډول:

**ستره تبله ده او دوې مخه لري ( دواړه لورې يې د غوايي، غوا يا مېخښې پوستکی لري) چې په ډيرايو کښلو کې د ډاول، ټاول، ډاوول هم کښل شوی دی، ډولچي چې ډول يې په پړې تړلی وي او پړی له اوږې تېره وي په څنګ او مخکې يې ځوړند وي په دوې بېلابېلا لاسرکي (دسترک) وهلو باندې وهي او غږ يې وزي، ډولونه ډول ډول ډولونه لري لکه: پکتياوال ډول، لوګری ډول، بلوچی ډول، خلاص ډول، ګرد ډول، يوه مخه ډول، ډولکی يا لغمانی ډول. د ډول وهل او سورني پوکول د ټاټوبي په ټولو سېمو کې دود درلود، په ځانګړې بڼه په بلخ، غور، هرات، پکتيا، لغمان، ننګرهار، لوګر، غزني، هېلمند کې، په ځانګړې بڼه په لرغونې پېر کې په بلخ، پکتيا او هرات کې ځانګړی دود درلود، ډولچي او سورنيچي په لويه کې په ودونو کې، ترو کې، انشر، سياليو، جرګو، ښه راغلاست، نخښه وېشتونکو، اس ځغله ونکو، نېزه وهونکو، مذهبي اخترونو، دودېزو مېلو، لوبغالو په کونجونو، غېږو، وزلوبو، او ټولګټه ودانيو په رسی پرې کونه او بنسټ ايښودنې، لوړ پوړو ودانيو په ودانولو، د سرکونو په رغولو، د ژورو کوهيو او د اوبو ويالو په کېندلو په دوران کې غږول کېږي. د يوه نارمل ډول اوږدوالی ۴۰ سانتي متره، او قطر يې ۲۲ سانتي متره دی، د توت او شوې له ډډ څخه جوړېږي، چې يوه متر ډډ څخه پوستګی او منځ يې د ځانګړې ارې باندې او باسي او بيا يې په رنده او تراش باندې توږې چې ټاکلي اندازې د ۵ سانتي ته يې پيړوالی برابر شي، او ژی ګانې قطر يې لس سانتي کوشنی وي او منځ يې ترې ستر، او په شکلنه پانه يې ښه مخې چې خويه شي او د غوځانو په پوټکو يې وهي چې قهوې رنګ واخلې، او بيا پرې د غوايي پوستکی کش کوي، او دوې وهونکي موټې (لاسرکي، دسترکي) يې هم له همدغه لرګي څخه جوړ وي، د برابر ډول اوږدوالی ۱۰۰ سانتي مېتره او قطر يې ۸۰ سانتي مېتره وي. ( لويس ډوپري، ۲۰۰۲ زېږدی، د اي ټمبونی يا افنډيکس اي چوپړی ) ( نصر الدين، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۴۵چوپړی)**




**۳۵:- د ټاټوبي لرغوني ډولو انځور ( # ۳۵ انځور )**

(c) ketabton.com: The Digital Library





۳۶:- دوې ډولچيان له دوې ډولو سره، مېرمنو د اتڼ د شيبې انځور ( # ۳۶ انځور )



۳۷:- دوې ډولچيان له ډولو سره د ټنګټکور د شيبې انځور ( # ۳۷ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۳۸:- دوې ډولچيان له دوې ډولو سره ، ځوانانو د اتڼ شيبې انځور ( # ۳۸ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3 .3 .6 ډولک:

د وهلو ساز دی، يوه مخه دی چې دوې تبلې (طبلې ) لري په ګردبڅ کې ډېر دود لري، د شهوې او غوځ له لرګيو څخه جوړېږي او پر مخ يې د اوزې پوستکی کش کيږي، د هرې تبلې په سر يې د منځ برخه کې د اته سانتي مترو په کچه ګرده توره ټاپه وهل کيږي، د دې دواړو تبلو يا ګړيو سرونه په پړو باندې کش شوي وي چې ټاکلی کنټرول د کشکولو د تبلې لاندې لورې ته ټينګ وي، چې په کومه کچه يې کش يا سخت کولی شي چې ټينګ يې کړي، د ساز په لاندې برخه کې اسماني رنګه حلقه ( ټوکي) د ساز نه ګرد چارپېره تاوه وي د پاڼې باندې اغوستل کيږي او وېستل کيږي، ډولک د ډولک په لرګي باندې وهل کيږي چې نوموړی لرګی د غوځانو وي، ډولک نغارې ته ورته دی چې په مرکزي اسيا کې دود لري، او لس سره موډرنه ډولک چې په اسبانو کې ټمبل شوي وي ټيټ او جيګ شتون لري، ستره تبله يې ۲۱ سانتي مېتره قطر او ۱۰ سانتي مېتره ژوروالی لري، کوشني تبله يې ۱۹ سانتي مېتره قطر او ۹ سانتي متره ژوروالی لري، د ډولک لرګی هم ۲۴ سانتي اوږدوالی او ۱،۵ سانتي مېتره پېړوالی لري. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( لويس ډوپري، ۲۰۰۲ زيږدی، د اي ټمبونی يا افنډيکس اي چوپړی )





۳۹:- ډولک د ډولونو انځور ( # ۳۹ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 4.3.6 زنګ ( تال):

**د وهلو ساز دی، له دوې مسي کوشنيو پيالو څخه جوړ شوی دی، چې د هندستان حنياګران يې د سندرو ويلو په دوران کې دواړه پيالې سره جنګوي او چې تر کوم اواز راوځي ورته پام کوي او خپلې پخښې دربه وي، تال او زنګ يو يکړ اواز دی، چې تال په هندستان کې او زنګ په ايران کې دود درلوده، ايران د لارستان اوسيدونکي لېندی (کمانچې) ته تال وايي، لوړې لېندی خلاصه کاسه شاته لري، لوړ لاستي لري د عادي لېنديو څخه دي، درې سپمه لري او له دوې وو يوه، يوه اوسپنېز کوشنيو ديرو څخه جوړ شوي دي چې په لاس کې نېول کېږي او له يوه او بل سره وهل کېږي، نومړی ساز د ټاټوبي په شمال او سويل کې ترې ګټنې اخستل کېږي او په ننګرهار او هرات کې هم له دوې تاره، طبلې او رباب سره وهل کېږي.**



**۴۰:- د زنګ ( تال ) انځور ( # ۴۰ انځور )**







**۴۱:- د زنګونو ( تالونو ) انځور ( # ۴۱ انځور )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 5.3.6 اړخبغلی، یوه سره ( زېر بغلي):

د وهلو ( ضربه يي ) ساز دی، ايراني تنبک ته ورته دی، چې په ټوله کې د خوشيو له ختې څخه جوړېږي، د اړخبغلي کوشنی سر خلاص وي، او لوی سر يې د اوزي يا د هوسی له پوستکي يا څرمنې باندې پوښل کېږي، د دواړو لاسو د ګوتو باندې وهل کېږي، اړخبغلی ۶۲ سانتي مېتره اوږدوالی او ۱۹ سانتي مېتره قطر لري، نوموړی وګړني ساز چې د شوې له لرګي څخه هم جوړېږي، نومړی ساز د ټاټوبي په خيتځ، شمال او سويل کې ترې سندرغاړې ډېره ګټنې اخلې. په ختيځ کې سرغندوی اړخبغلي وهونکی توتي په نوم و د مهترلام د زيارت کلي اوسيدونکی و، چې ۱۳۱۰ زېږدي کې يې اوستاد ګل محمد ګلکي ته ښودله، د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ لېږدی، ۱۳۲چوپړی)





۴۲:- اړخبغلی، یوه سره یا زېر بغلي انځور ( # ۴۲ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6.3.6 تبله ( طبله، دوې ګړيه، دوګړې ):

د وهلو ( ضربه يي ) ساز دی، چې په تکراري کلونو کې افغانستان ته راوړل شوي دي، د ډهلي د ښوونځی له پامه طبل او ډول ويوکی له دوې سرو څخه اخستل شوی دی، چې پخوا به يې ورته ميردنګ ( پخاوج) ويل، تبله له دوې استوانه يې يکړو څخه جوړه شوي ده، چې ستري برخې ته يې بم او کوشنی برخې ته يې زيل ( کاتي ) وايي، چې په اوسني پېر کې د ټنګټکور ناستو کې د افغانستان، هندوستان او پاکستان په قوالي، چشتي په سندرو کې ترې ډېره ګټنې اخستل کيږي. په نوې پېر کې برېښنايي او غړېزه ډولکي ډېر ګړندی دود لري په پخښه لرونکي اوسپنېزو ځاپرځای کونکو کې ټينګيږي، چې درې ستر او دوې کوشني ډولونه لري، او درې داني د ژېرو نالبکيه (يوه يې ۴۰، دوپيمه يې ۶۰ او درپيمه يې ۸۰ سانتي متره وي ) لري چې ټول د يوې الې په ډول درې غټ ډولونه سره خوا پرخوا دوې کوشني له دوی نه لږ لوړ وړاندې، او دوې نالبکيه يې ښې او يوه نالبکی يې ګسټ لورې يوه د بل له پاسه په ولاړه ټمبل شوي وي. د ليکونکي ډېرونه او ژباړه ( نصر الدين، ۱۳۸۳ ليږدی، ۱۳۴چوپړی)



۴۳:- د تبله ( طبله، دوې ګړيه، دوګړې) انځور ( # ۴۳ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 7.3.6 منګی ( ګړی):

د وهلو ( ضربه يي ) ساز دی، چې کلالان منګی جوړ کړي له اومه ختې څخه او د تنور په منځ کې يې ختين ګړی پوخ کړي چې د ابو ساتلو او سړولو ته برابر وي پرې ربړ او د څېرلې پوستکی ټينګ و تړې، او په يوه لاس يې وهي، نوموړي ساز سره نکلي کاسه يا لوښی کاروي چې ځينې وخت يې په نرې دړې او اوسپنيز ګلاس کاسه وهي او په ښي لاس يې منګی وهي، منګی چې سر يې ۱۵ سانتي مېتره قطر لري او منځ يې له اوبو تش وي. په ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان کې او د نويو زلمو له لورې په ډېرو کې ډېر وهل کېږي. ,, له يوه لورې په اسانۍ جوړېږي او له بل لورې په اسانۍ لاسته راځي. ،، (جان بيلي، ۱۹۸۸ زېږدی، ۱چوپړی)، (صفی الله، ۲۰۲۲ زېږدی، ۱۱ چوپړی)



۴۴:- د منګي ( ګړي) او ټاټکی چې ننګرهاری سرغندوی منګيماری غوث الدين لالا انځور ( # ۴۴ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 7. یادونه:

**د ټاټوبي سرغندوي ربابیان دي اوستاد رحیم خوشنواز، هفته ګل ربابي او سید حسین اغا، سرغندوی تنبور غږونکی دی اوستاد بهاوالدین مزاري چې نړۍ وال نوم لري، د حراتی دوې تاره غږونکي اوستاد عزیز هروي او اوستاد ګدامحمد دي، سرغندوی ډولچي دی حیات الله قرباغی د خان قرباغي زوی، زرین، چینار ګل وردګ، سرغندوی تبله چې دی اوستاد رحم الله لغمانی، سرغوندوی ارمونیه چي دی اوستاد ګل محمد ګلکی شپرزاد او اوستاد ملاجان ملاګی نیازی، سرغندوی دایره وهونکی دی بریالی هېلمندی، سرغندوی تولی وهونکی دی اوستاد ګل محمد ګلکی شپرزاد، سرغندوی دمبوره چي دی حاجي رنګین شبرغانی.**



**۴۵:- د کابل اینټرکانتینینټل هوټل د ټنګټکور ډله چې منځ کې اوستاد ګل زمان له ارمونیې سره، ګسټ لاس ته یې ربابي له رباب سره، ښي اړخ ته یې دوګړه چې له دوګړې سره انځور، بل لورې ته زه ( لیکوال ) له خپلو زوزان سره کوشنی حاجي عمران فردوس، بي بي حاجي سارانیسا ځنځله فردوس، بي بي حاجي ازلدا ځنځله فردوس، حاجي الیا فردوس انځور ( # ۳۹ انځور )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 8. د انځورونو معلومات

1. د رباب انځور
2. رباب د ښاپ، ځنډي او نس انځور
3. د کابل پوهنتون د هنرونو او ادبياتو پوهنځی زده کړيالي فضيله ضمير انځور
4. د کابل سرينا هوټل د ټنګټکور ډله چې منځ کې ربابي له رباب سره، ښي اړخ ته يې تنبورچي له تنبور سره او ګسټ اړخ ته يې تبله چي له تبله سره انځور
5. د تنبور انځور
6. کابل د هنرونو ستر ښوونځي ښوونکي او د زده کوونکو انځور
7. د کابل د هنرونو ستر ښوونځي زده کوونکو انځور
8. د چنګ انځور
9. د څلور تاره انځور
10. د دمبورې انځورونه
11. د دوې تاره انځور
12. د غجکې، چېغکې يا رېچکي انځور
13. امين غجکماری چېغکه يا رېچکه يې له مومن غورېيو له ټيم څخه جوړ کړې او وهې يې او کاکړی غاړې ورسره وايي له څو تنو مجاهدو ملګرو سره يې انځور
14. د محلي سندرغاړي فلک بدخشاني غجکماری چې ښي لورې ته يې په ديوال ننګرهاری لنډی رباب ودرولی او کيڼ لاسته يې په ديوال بدخشانی دمبوره ودرولي انځور يې ليکوال پرې کړی
15. د سرېندې يا څرېندې ډولونو انځور
16. د ټاټوبي د ټنګټکور الي چې په منځ کې يې سرېنده ده، ښي اړخ ته يې يو رباب او دوې تولی اېخښي دي او کيڼ لورې ته يې درې تاره اېخښی دی، د ټاټوبي لرغون ټنګټکور توکو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



17. د ټاټوبي بلوڅي ټنګټکور کې د ديرا او سرېنده سره ګډ انځور

18. سرنی د نورستان واماى سپمي پورې اړه لري، د سرنی انځور

19. د شپېړتاره انځور

20. د بینجو انځور

21. لغمان د محلي سندرغاړو د پرې شوې شیبې له بینجو، منګي او چیلمچي سره انځور

22. د واج ( وونز) انځور

23. کانتیوا او د نورستانی مېرمنو د ګډې نڅا انځور ,, پیرو مرنډي، ایتالیاوی دره ګرځندوی په کافرستان کې، د انسان پېژندنې دوره او د توکم پېژندنې موزیم ټولونه، ۱۰ څېره، د نڅا تیارول ،، (پیرو مرنډي، ۱۹۶۸ زېږدی، ۱۴۱ چوپړی)

24. نورستانیانو د ګډې نڅا انځور

25. د دبه نی (دبني سورنی) یا د سرنې ډولونو انځور

26. د سورنی او ډول انځور د هوټل په واده کې له سورنیچي او ډولچي سره.

27. سورنی ( سورنا، سورنای) شریف خان خوستي د ټنګټکور الې لکه سورنی باجې، ډولک او ډول انځور

28. د رنګړی (تولی، توله، غوړګه، کړکی یا نی) ډولونو انځور

29. نورستانی ښځې د تولۍ غږولو انځور

30. جانان غزنیچي عابد د تولۍ غږولو انځور

31. د ارمونیې، هارمونیې یا باجې انځور

32. الله بخښلی احمد ظاهر د شرق الماس د ارمونیې وهلو په دوران له الله بخښلي اوستاد نبی ګل او الله بخښلي اوستاد ولي سره انځور

33. کابل د هنرونو ستر ښوونځي د زده کوونکو انځور

34. د دایرې (دیرا) انځور

35. د ټاټوبي لرغوني ډولونه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



36. دوې ډولچيان له دوې ډولو سره، مېرمنو د اتن د شيبې انځور

37. دوې ډولچيان له ډولو سره د ټنګټکور د شيبې انځور

38. دوې ډولچيان له دوې ډولو سره ، ځوانانو د اتڼ شيبې انځور

39. ډولک د ډولونو انځور

40. د زنګ ( تال ) انځور

41. د زنګونو ( تالونو ) انځور

42. اړخبغلی، يوه سره يا زېر بغلي انځور

43. د تبله ( طبله، دوې ګړيه، دوګړې) انځور

44. د منګي ( ګړي) او ټاټکی چې ننګرهاری سرغندوی منګيماری غوث الدين لالا انځور

45. د کابل اېنټرکانټينينټل هوټل د ټنګټکور ډله چې منځ کې اوستاد ګل زمان له ارمونيې سره، ګسټ لاس ته يې ربابي له رباب سره، ښۍ اړخ ته يې دوګړهچي له دوګړې سره انځور، بل لورې ته زه ( ليکوال ) له خپلو زوزان سره کوشنی حاجي عمران فردوس، بي بي حاجي سارانيسا ځنځله فردوس، بي بي حاجي ازلدا ځنځله فردوس، حاجي اليا فردوس انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بيبلو ګرافي Bibliography .9

**د هغو ليکونو لېست چې په يوې سکالو (موضوع) يا کښونـکي (مولف) پورې اړه و لري.**

**John Baily, (1973-2003), Music and censorship in Afghanistan, *Music and the Play of Power in the Middle East, North Africa and Central Asia. Laudon Nooshin,***

**[http://www.gold.ac.uk/music/staff/baily]**

**John Baily, (1988), Music of Afghanistan: *Professional Musicians in the City of Herat, Cambridge Studies in Ethnomusicology, Cambridge University Press, UK,***

**[http://book(s. google.co.uk/books?id=uSE9AAAAIAAJ&printsec=frontcover&dq=herat+music+john+baily&source=bl&ots=tpnRnJycXk&sig=LDd-UWN_Is2GeTBe1)9fo_s8vT00&hl=en&ei=7iQaTefHDZOKhQeAzaC4Dg&sa=X&oi=book_result&ct=result&resnum=4&ved=0CC0Q6AEwAw#v=onepage&q&f=false]**

**Louis Dupree, (18/07/2002), Afghanistan, *Oxford University Press, United states of America.***

**جان بيلي. دوکتور. (۱۳۵۱څخه تر ۱۳۸۲لیږدی، ۱۹۷۳ څخه تر ۲۰۰۳ زیږدی)، ټنګټکور او سانسور په افغانستان کې، د ټنګټکور ليکی د ځواک ترلاسه کول په منځه ني ختيځ، د افريقا په شمال او منځنی اسيا کې، لندن چاپ ۲۰۰۳ زیږدی ، چوپړی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفي الله فردوس. ډيپلوم. انجېنر. ( ۱۳۸۸ لېږديز لمريزکال)، څلېر کي د ددو دود، زما د شعرونو ټولګه. [http://www.ketabton.com/book/id/820]، [ January 31 2016]، 22:18 د شپې.

صفي الله فردوس. ماستر. انجېنر. ( د کب ۱۲، ۱۴۰۰ لېږديز لمريزکال)، د ټاټوبي ټنګټکور او پېيلي، وړيا پوهنغونډ ويکيپېډيا له پاره ليکنه.
[ https://ps.wikipedia.org/wiki/د_ټاټوبي_ټنګټکور_او_پېيلي ]،
[November 11 2022]، 11:40 د ورځې.

نصر الدين سلجوقي. ( ۱۳۸۳ هجري، ۲۰۰۵ ميلادی)، موسيقي و تياتر در هرات، ويراست فرامرز تمنا، تهران، انتشارات توس، شابک ۹۶۴-۳۱۵-۶۲۵-۷، صفحات ۱۴۵-۱۰۷.

https://www.iranketab.ir/book/54224-music-and-theater-in-herat

تحول موسيقي در افغانستان، نوشته داکتر عبدالوهاب مددي.

Published by open concept on Sun, 09/14/2008- 13:46

https://fis-iran.org/fa/irannameh/volxxii/afghan-music

https://soundcloud.com/AhmadZaher

http://www.bbc.co.uk/persian/arts/2013/04/130212_mar_afgmusic_history_music_assadullah_shour.shtml

نګاهي به تاريخچه موسيقي افغانستان

http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2013/04/130426_k03_afgmusic_rap_in_afghanistan_kawoon.shtml

(c) ketabton.com: The Digital Library



تب موسيقي رپ در افغانستان

http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2013/04/130308_mar_afgmusic_farhad_darya_on_afg_music.s

از خاموشي تا جيغ، موسيقي افغانستان در يک دهه گذاشته

http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2013/04/130212_mar_afgmusic_legacy_of_old_artist_siasang.sh

ميراثي که استاد قاسم به موسقي افغانستان بجا گذاشت

http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2013/04/130327_k04_afgmusic_pop_zainab.shtml

سفر از خرابات به پاپ

http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2013/04/130216_afgmusic_groups_hasanzada.shtml

نگاهي به ظهور و افول گروه های موسيقي افغانستان

**Simon Broughton, Mark Ellingham, Richard Trillo. (1999) "World Music: Latin & North America, Caribbean, India, Asia and Pacific" p.3**

**[https://books.google.com.au/books?id=QzX8THIgRjUC&pg=PA3&dq=afghan+music&hl=en&sa=X&ved=0ahUKEwjujOq3ubbY**

(c) ketabton.com: The Digital Library



AhWJxbwKHQeUCaEQ6AEINzAD#v=onepage&q=afghan%20 music&f=false]

Mikalina (http://www.mikalina.com/Texts/music-afghanistan.htm)

Archived (https://web.archive.org/web/20051104054505/http://www.mikalina.com/Texts/music-afghanistan.htm).

Wayback Machine 2005-11-04 at the

https://en-academic.com/dic.nsf/enwiki/185296

Piero Morandi, Villa-Italian-Traveler-Kafiristan, Luca Villa, 1968. Page # 141

پيرو مرندې، ایټالیاوی دره ګرځندوی په کافرستان کې، ۱۹۶۸ زیږدی، ۱۴۱ چوپړی
د انسان پېژندنې دوره او د توکم پېژندنې موزیم ټولونه، ۱۰ ګڼه، د نڅا تیارول،

https://edspace.american.edu/silkroadjournal/wp-content/uploads/sites/984/2021/03/Villa-Italian-Traveler-Kafiristan.pdf

# ABODE
# MUSIC AND POEMS

## Research papers



**MSc.Eng. Safiullah Firdows**

**January 1, 2023**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**